# همبستگۍ غږ

د افغانستان د همبستگۍ ګوند خپرونه

۱۲
پښتو
پسرلي ۱۳۹۷

## د غويي اوومې او اتمې د غندلو په موخه د «همبستګې ګوند» غونډه

۴ مخ



# همبستګي

د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۰۰-۲۳۱۵۹۰

د جواز شمیره: ۸۷


**د ګوند موخې**

- خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټی افغانستان.
- د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملي یووالی.
- د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو وګړو مساوي حقوق.
- د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه.
- د امریکایي او ناټو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.

## پدې ګڼه کې:


په سرتاسري پوهې او مبارزې سره، د غويي ۷مې او ۸مې پیغور پاک کړو!........................ ۱

د غويي اوومې او اتمې د غندلو په موخه د «همبستګې ګوند» غونډه.................................. ۴

هیڅ جګړه‌مار د سولې پیغام‌راوړونکی نشي کیدلی............................................................ ۶

عفرین، د کوباني حماسه به تکرار کړي!................................................................................ ۱۱

عبدالرحمن لودین، د افغانستان په روڼ‌آندي خوځښت کې بلیدونکی «اورلګیت».............. ۱۴

د مذهبي زورواکۍ په وړاندې د ایران د خلکو څپانده غورځنګ نه ماتیدونکې دی! ........... ۲۹

شجاع‌الدوله، زموږ د تاریخ ملي او ویاړلی شخصیت........................................................ ۳۵

وحدت یوسفزی د امریکایي ځواکونو له لوري په شهادت ورسیده...................................... ۳۹

د تخار په چاه‌آب ولسوالۍ کې په ځناوریزه توګه د یوې ښځې وهل ټکول.......................... ۴۱

«ملي ډمکراسي بنسټ» د امریکا د توکم‌پالنې د مخ پټولو پرده ده.................................... ۴۳

اته ستر پانګوال د نړۍ د نیمو خلکو په برابر شتمنې لري.................................................. ۵۰

د عربستان ملي ټلویزیون، د ښځو وهلو او ټکولو طریقی زده کړه ورکوي.......................... ۵۲

د حزب اسلامي خوروړي قومندان په نامه د تلاشي چوک او یو ښوونځې ککړیدل ............. ۵۴



اعلامیې

# په سرتاسري پوهې او مبارزې سره، د غويي ۷مې او ۸مې پيغور پاک کړو!



يو خونړی کال تير شو او د غويی ۷ او ۸ تورې ورځې راورسيدې؛ سپېرې ورځې چې هر ځل يې په رارسيدو سره، د قربانيانو ټپونه تازه کيږي. دوه خونړۍ ورځې چې يوې يې د شوروي سوسيال – امپرياليزم نيواک ته زمينه برابره کړه او بلې يې د پاکستان، ايران، عربستان او په پای کې د امريکا له لوری زمونږ د هيواد نيولو ته لاره پاکه کړه. د غويی ۷مه په هيواد کې جنايتونو او هيوادپلورنې پيل وو چې په ميليونونو مړي، ټپيان او در په دره انسان يې پر ځای پريښودل. هغه ولس چې هيله يې لرله د شوروي او لاسپوڅو ته د شرم ډکې ماتې سره به په يوه انساني او آرامه فضا کې ژوند وکړي، خو د غويی ۸مې ځناورو نه يواځې د ولس د قربانيانو ثمره يې له منځه ويوړه بلکه کابل ته د ننوتلو په لومړيو ورځو کې، دغه ښايسته ښار يې په کنډواله بدل کړ، اويا زره بيګناه وکړي يې شهيدان کړل او داسې يو قيامت يې جوړ کړ چې د هيواد په تاريخ کې سارې نشته، له همدې کبله زمونږ خلکو په سمه توګه د «هشت ثور سياهتر از هفت ثور» شعار وركولو. په خواشينۍ سره چې د افغانستان لوټماران او وژونکي چې زمونږ ويرجن ولس يې وواژه، نن د امريكا تر بيرغ لاندې د انسان‌وژنې او خيانت او لوټ په دوهم پړاو کې بوخت دي. دوی يو بل په غيره کې نيسي او د افغانستان د خلکو پر وينو او جسدونو په کړس خاندي. ګلابزوی، تڼی، طاقت او نور خلقي – پرچمي هيوادپلورونکي چې له

مخ او سر نه يې د خلکو وينې بهيږي، د ګلبدين راکټيار هرکلي ته ورغلی وو او د کابل قصاب د سولې کوترې په نوم تبليغ کوی.

نن سياف په بې‌شرمۍ سر اعلان کوی چې د کابل سپين‌تانه جګړو يوميليونمه برخه پړه هم نه اخلي؛ ګلبدين د اخوانيانو مشر په بې‌شرمۍ او سپين‌سترګتوب سره دعوا کوی چې په هيڅ جنايت کې ښکيل نه ده او کابليان هم د آسمان مرغانو شهيدان کړي دي نه د هغه زرګونو راکټونو؛ په ورته وخت کې د نظار شورای، جمعيت، وحدت، جنبش... داسې د دموکراتانو اکټ او نخرې کوی او په هره جمله کې د «دموکراسۍ»، «ښځو حقونه»، «يو موټی افغانستان» کلمې وايي چې ته به وای د کابل په ويجاړۍ، د هغې د اوسيدونکو په ټول‌وژنه کې او نور لوټ کې يې هيڅ ونډه نلره. خو دغه خاينان هيځکله نشي کولای پر حقيقتونو پرده واچوی. دوی نن د جان‌کيری او زلمی‌خليلزادانو په ملاتړ سره کولای شي چې د «ملی اتل» او «سولې اتل» او ... څيره ځانته غوره کړي خو حقيقت خپله لاره بيامومی او هغه ورځ رارسيدونکی ده چې دغه ځناور به د تاريخ د کرغيړنو څيرو لکه هيتلر، فرانکو، پينوشه، سوهارتو او سلګونو نورو وينه‌څښونکو په څير به په تاريخ کی ثبت شي.

ملی ضد ناتارکونکو او امريکايي واکدارانو يې له درغليو او ملنډو ډکو ټاکنو په ترسره کولو، د دموکراسۍ رکن هم د خلکو په منځ کی رسوا او بې‌باوره کړ. خلک دې پوهې ته رسيدلی چې د يو بې‌واکه او د پرديو له لوری تپل شوی دولت کی، د هغوی له رايې څخه يوازی شړيدلی او لاسپوڅي نظام ته د مشروعيت وربخښولو لپاره ناوړه ګټه اخيستل کيږی حال دا چې ګټونکی جان‌کيری ټاکي. دولت هم له دغو خاينانه لوبو بيزاره ولس په زوره نوم‌ليکنې ته اړباسی چې بيا هم زمونږ مظلوم ولس د ترهګريزو پيښو قربانيان کيږی چې د هغې دردونکی ډول مو څو ورځې وړاندې په دشت‌برچي کی وليده چې لسګونه تنه په ځناوريزه توګه شهيدان شول. زمونږ د ولس د بدمرغيو اصلی عاملان ع او غ او ددغه فاسد او بوي‌ناک حکومت مشران دي.

کړېدلو هيوادوالو!

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» ژور باور لری چې تر هغې د غويی ۷مې او ۸مې وينې‌څښونکي څکالکي زمونږ په برخليک واکمن وي، نشوکولای چې د امريکا او ناتو شيطانانو واکمني وځپو، نه هم ځناورخويه طالبان او داعشيان او په هيواد کې جاری فساد، بدمرغۍ، در په دري، روږدي‌توب، ناتاري او ...

به نور هم ډیره شـي زمونږ خلک به له تور راتلونکي سـره مخ شي. له اوسني ناورین څخه یوازې په پوهه، سازمان‌ورکونې او ولسي پاڅون سره خلاصیدلی شو او بس! تر هغې چې ټول قومونه او ملیتونه په یووالي او یو موټی د کورنیو خاینانـو او بهرنیـو نیواکګرو پر وړاندې د مرګ او ژونـد په مبارزه لاس پورې نکړو، افغانستان د ویجاړۍ له دې کندې څخه نشو ژغورلی.

**د افغانستان همبستګۍ ګوند**

۱۳۹۷ کال د غویی ۶مه



گزارشونه




# د غويي اوومې او اتمې د غندلو په موخه د «همبستګې ګوند» غونډه




کابل – ۱۳۹۷ کال د غويي ۶مه: نن د همبستګۍ ګوند غړو او پلويانو د غويي ۷مې او ۸مې تورو ورځو غندلو په موخه غونډه وکړه. مونږ داسې هوډ درلو چې پروګرام د لاريون په څير د کابل په يوه جګړه‌ځپلې سيمه کې لکه جاده يا زوړ ښار کې په لاره واچوو، خو دولت په هغه ځايونو کې د نيولو اجازه رانکړه او ګوند يو وار بيا د ښار په يو بند ځای کې راګير شو.

د غونډې ګډونوالو له ځانه سره پلاکارتونه لرل چې د کابل د ويجاړيو د ځلور لسيزو په ځانګړې توګه او غويي اتمې قربانيانو انځورونه په کې له دې شعارونو سره ول: «د غويي اوومه او اتمه، د ملي وير دوه ورځې دي!»، «زمونږ خلک بـا د غويي اوومې او اتمـې جنايتکاران محاکمه کـړي!» «د غويي اوومې او اتمې جنايتکارانو له محاکمې پرته، افغانسـتان سـولې او نيکمرغۍ ته نشـي رسيدلی!»

آغلې سيلۍ غفار، د «افغانستان همبستګۍ ګوند» وياندې په پيل کې وويل:

«د غویي ۷مه په هیواد کې جنایتونو او هیوادپلورنې پیل وو چې په میلیونونو مړي، ټپیان او در په دره انسان یې پر ځای پرېښودل. په خواشینۍ سره چې د افغانستان لوټماران او وژونکي چې زمونږ ویرجن ولس یې وواژه، نن د امریکا تر بیرغ لاندې د انسان‌وژنې او خیانت او لوټ په دوهم پړاو کې بوخت دي. دوی یو بل په غیره کې نیسي او د افغانستان د خلکو پر وینو او جسدونو په کړس خاندي. امریکا او لویدیځ هم پر همدوی پانګونه کوي او پوهیږي چې همدغه جنایتکاران حاضر دي چې د څو پیسو په بدل کې له هیواد او ناموس څخه تیریږي.»



د خپلو خبرو په لړ کې د نوم‌لیکنې په مرکز برید کې د قربانیانو کورنیو ته په ډاډورکولو سره، زیاته یې کړه:

«په اوسنیو حالاتو کې تر هغې چې ولس د ملي خاینانو او د هغو بهرنیو بادارانو پر وړاندې په پاڅون او مبارزه لاس پورې نکړي، که ټاکنې ترسره شي او که نه، همدغه هیوادپلورونکي ناتارکونکي، ټوپک‌سالاران، هیرویین‌سالاران او څوتنه چټلي‌خوړونکي روښآندي به د بهرنیو نیواکګرو په مټ زمونږ پر برخلیک واکمن وي. د ۲۰۱۴ له ملنډو ډکو ټاکنو هیڅ شي ته د ولس په ګټه بدلون ورنکړ، یوازې یې طالبي او داعشي انسان‌وژونکو ته زمینه برابره کړه چې په دې پلمه پرلپسې زمونږ په بې‌ګناه خلکو بریدونه کوي او ډلې ډلې وژني. له همدې موقعې څخه په ګټه اخیستنې د برچې دښتې د پیښې قربانیانو کورنیو ته ډاډګیرنه ورکوم. وګورئ هیوادوالو! دوی څومره بې‌شرمه او خلک زوروي. تر پرونه پورې چې زمونږ خلک د یوې پیژندپاڼې اخیستلو لپاره په اونیو د دولتي ادارو شاته سرګردانه ول، خو نن چې دوی پیژندپاڼو او د خلکو رای ته اړتیا لری، ګورو چې څرنګه یې د پیژندپاڼو مرکزونه پرانیستي او خلک هڅوي.»

سربیره پردې، د غونډې په یوه برخه کې، یو شمیر ځوانان د غویي اوومې او اتمې جنایتکارانو ځیرو سره چې تر نن ورځې د خلکو په ټپي بدوډو سپاره دي، لیدل کیدل چې لاسونه یې په ځنځیرونه تړل شوي او ولسي محکمه کې ولاړ ول.


شهادت
الله اکبر
موافقت نامهٔ تاریخی بین برادر حکمتیار امیر حزب اسلامی افغانستان وبرادر احمدشاه مسعود به امضا رسید

ليکونکی: سمير

# هيڅ جګړه‌مار د سولې پيغام‌راوړونکی نشي کيدلی


شهادت
الله اکبر
موافقت نامهٔ تاریخی بین برادر حکمتیار امیر حزب اسلامی افغانستان وبرادر احمدشاه مسعود به امضا رسید

د تنظيمونو سپيره سيوری د کابل په خپور وو او بريښنا هم نه وه. آن زمونږ په سيمه کې د حزب اسلامي غړو د برق عمومي او شخصي مزی د ځمکې او ديوالونو څخه رابښکل او له سوځولو وروسته به يې د هغوی المونيم او مس خرڅول او پاکستان ته به وړل کيدل. نور برق نه وو او د تيل اخيستلو توان مو هم نه درلود. له همدې کبله که څه هم اته کلن ماشوم وم خو له پلار سره به مې له غره د سون لپاره لرګي او بوټي راوړل. سهار وخته بايد په نهاره له خپل پلار سره څلور ساعته مزل کړی وای چې د کابل چکری غرونو لمن ته رسيدلی وی، او د څو ساعتونو لپاره مو په غره کې لرګي او غرني بوټي راټولول او پلار به مې هغه پيټی په شا له غره نه را ښکته کاوه او بيا به مو پر لاس ګاډي تړه او کور ته به راستنيدو. کومه ورځ به چې کور کې لږ اوږه ول نو وچه ډوډۍ به مو له ځانه سره وړله او هلته به مو د چينې له اوبو سره خوړله، که نه نو، تر مازيګره او کور ته تر رسيدو به له ډوډۍ خبر نه وو. هره ورځ به د خپل ښونځي تر خنګ تيريدم چې بشپړ ويجاړ شوی وو.

یوه ورځ چې لاس ګاډي مو له بوټو ډک له غره څخه راستنیدو، د حزب اسلامي غړی زمونږ په سیمه کې د تیارسی په حالت کې ول او ګاډي یې «ډاټسن» په بیړه هاخوا او دیخوا تلل. زه ویریدلی وم، خو کله مې چې پلاره له یو تن څخه وپوښتل چې څه خبره ده، هغه ورته په ځواب کې وویل چې «حکمتیار صیب له مسعود سره لیدنه لری او سوله کوی.» له ځان سره خوشحاله شوم او خیالی تصویر مې په ذهن کې جوړ شو چې سوله راځي او نور به غره ته نه ځم، ښوونځي ته به ولاړ شم او خپل ټولګۍوال به ووینم. هماغه خیالی تصویر چې نن د ګلبدین په راتګ سره یې د هیوادوالو په ذهن کې پیچکاری کوی. هماغه ورځ مازیګر ګلبدین له مسعود سره زمونږ سیمې ته خیرمه د غونډۍ په سر ولیدل. خو ماښام د مردکیو او راکټونو د ډزو غږ پورته شو، نه پوهیدم چې د خوښۍ دی او که د جګړې؛ په هر صورت ځمکتل ته ولاړو. سوله رانغله او ښوونځي ته هم لاړم نه.

د شهادت خپرونې په سرټکو کې، د حزب اسلامی مرکزی خپرندویه، (۱۳۷۱ کال د غبرګولي ۷مه) لولو چې د ۱۳۷۱ کال د غبرګولی په ۴مه د امیر تایف، اعجاز الحق (د ضیاالحق ځوی) او جنرال حمیدګل په شتون کې «د ورور حکمتیار د حزب اسلامی امیر او ورور احمد شاه مسعود تر منځ تاریخی هوکړه لاسلیک شوه.» خو ددغو داړونکو ورنو ترمنځ د هرې «تاریخی هوکړې» په لاسلیک کولو سره د کابلیانو وینې لا زیاتی بهیدلی. البته دا وروستی ځل نه وو چې پاکستانی او عربی بادارانو یې ددوی پخلا کولو لپاره هڅه کړی وی، کله به په اسلام‌آباد کې او کله هم په مکه کې، خو په حقیقت کې دغو «تاریخي هوکړو» له ځانه سره نوره هم ډیره جګړه او وینې او ویجاړي راوړله. له شرمه ډکې هوکړې چې په هغوی به په ډهل او سورني سره د سولې او پخلاینی خبری کیدلی، خو ډیر ژر به دغو «جهادی ورونو» یو په بل دانګل او په خپل منځي اخوډب کې یې د کابل ښار داسی ویجاړکړ چې ۷۰ زره کابلیان یې ووژل او ډیر شمیر نور یې ټپیان او در په در کړل.

له دغې «تاریخی هوکړې» څخه یوه میاشت وروسته د ۱۳۷۱ کال د زمري په ۱۵مه (۱۹۹۲ کال د جولای په ۶مه) د «په کابل کې له سلو تنو څخه زیاتو د درنو وسلو په خونړي بریدکې خپل ژوند له لاسه ورکړ» تر سرلیک لاندی یو ګزارش د پاکستان «دی نیوز انټرنشنل» ورځپاڼه کې چې له «فرانسې خبری آژانس» څخه یې راخیستی لولو:

«کابل: لږ تر لږه سل تنو پر کابل ښار د درنو وسلو په خونړي برید کې په تیره دوه میاشتو کې ژوند له لاسه ورکړ...

# Over 100 die as Kabul suffers worst artillery barrage

## Rocket hits US embassy; capital without electricity, water; Rabbani condemns attacks; leadership council to meet

AFP

KABUL: At least 100 people were killed when Kabul suf-

Khan hospital. Kabul is without electricity or water since midday Saturday.

Ustad Fareed prime minister-designated who is loyal

«په کابل کې له سلو تنو څخه زیاتو د درنو وسلو په خونړي برید کې خپل ژوند له لاسه ورکړ» تر سرلیک لاندې یو ګزارش د پاکستان «دی نیوز انترنشنل»

د شنبې په ورځ د څو ساعتونو لپاره د ښار په منځ کې د دولت‌پلوه ملیشو او د کابل په ۱۴ کیلومتری، چهارآسیاب ولسوالی کې د ګلبدین حمکتیار حزب اسلامی ځواکونو تر منځ د درنو وسلو نښته وشوه. راکټونه په کورونو، مارکیټونو او میلمستونو او د کابل ښار په ګڼه‌ګوڼو سیمو لکه شهر نو او وزیراکبر خان کې لګیدل.»

او د ۱۳۷۱ کال د وږی په ۲مه نیټه (۱۹۹۲ کال د اګست ۲۴مه) له «رویټرز خبری آژانس» څخه راپور ورکوی:

«اسلام‌آباد، د ۱۳۷۱ کال د وږی اوله – ۱۹۹۲ کال د اګست ۲۳مه: د شنبې په ورځ ملګرو ملتونو اعلان وکړ چې په تیرو دوه اونیو کې په کابل ښار کې د تنظیونو ترمنځ په خونړیو جګړو کې، لږ تر لږه ۱۸۰۰ تنه چې ډیری یې ښځې او ماشومان ول، وژل شوی دي.

# 1,800 dead in Kabul, 120,000 flee

ISLAMABAD, Aug 23: At least 1,800 people have been killed, many of them women and children, in two weeks of bloody factional fighting in Kabul, the United Nations said on Sunday.

Several thousands have been injured since the renegade Hezb-i-Islami Mujahideen and forces loyal to the Islamic coalition government joined battle two weeks ago, a senior UN official said.

An estimated 120,000 of the 1.5 million residents of the battered Afghan capital have fled. Sotirios Mousouris, personal representative of the UN Secretary-General in Afghanistan and Pakistan, said in a statement.

UN Agencies working in Afghanistan have prepared an emergency package of $10 million "to address the urgent humanitarian needs of the country arising from the current hostilities", he added.

More than 1,800 civilians have been killed, with a high death toll among women and children, he said.

"Among the 17 hospitals in Kabul, only eight are minimally functioning with 2,403 beds," he said, adding that all had been hit by rocket fire.

The few remaining doctors are unable to provide medical and surgical services due to lack of electricity, water and essential medicines such as anae... intravenous fluids and ba...

Mr Sotirious said the United Nations agencies working in Afghanistan had prepared a US dollar 10 million package of emergency assistance to address the urgent humanitarian needs of the country arising from the current hostilities.

The areas covered in the package include the transport of food aid (dollar 4 million); medical supplies and supplementary feeding (dollar 2 million); shelter materials (dollar 2 million); and mine clearence (dollar 2 million).

He said the emergency programme would be implemented within the framework of budget of the Secretary-General's consolidated appeal for assistance to Afghanistan launched on June 6.

He said "the size of the displaced population in the country is rising rapidly with the exodus of people fleeing Kabul daily. Some 20,000 persons are reported to have sought refuge in the region of Pul-i-Khumri, where food, shelter and medical assistance is being mobilised by the UN in Mazar-i-Sharif.

An estimated 55,000 persons have reached Mazar-i-Sharif itself, with more arriving daily, and about 6,000 are housed in schools. Well over 30,000 persons have fled towards Sarobi and Jalalabad, and approximately 1,000 have reached ...ed and are housed in public ...s. Some 10,000 persons are

DAWN

«اسلام‌آباد، د ۱۳۷۱ کال د وږی اوله – ۱۹۹۲ کال د اګست ۲۳مه: د شنبې په ورځ ملګرو ملتونو اعلان وکړ چې په تیرو دوه اونیو کې په کابل ښار کې د تنظیونو ترمنځ په خونړیو جګړو کې، لږ تر لږه ۱۸۰۰ تنه چې ډیری یې ښځې او ماشومان ول، وژل شوی دي.

د ملګرو ملتونو

دغه لوړپوړي چارواکي وای چې په تیرو دوه اونیو کې د حزب اسلامي مجاهدینو او د ایتلافي دولت ځواکو تر منځ جګړو کې، څو زره تنه انسان ټپیان شوی دي.

سوتیرویس موسوریس (Sotirios Mousouris)، افغانستان او پاکستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی، په یوه اعلامیه کې وویل چې د کابل یونیم میلیوني ویجاړ شوی ښار څخه شاوخوا ۱۲۶ زره تنه تښتیدلی دي.

...

هغه وویل چې له ۱۸۰۰ تنو څخه زیان وژل شوی چې ډیری یې ښځې او ماشومان دي.

هغه وویل: "د کابل له ۱۷ روغتونونو څخه، یوازې ۸ په ډیرو لږ امکاناتو سره چې مجموعي ډول ۲۴۰۳ بستره لري، فعال دی." او زیاته یې کړه چې ډیری یې په راکټونو لګیدلي دی.

ډاکټران ډیر لږ پاتي او د بریښنا، اوبو او درملو او بې‌هوښۍ موادو د نشتون له کبله طبي خدمات او عملیات نشي ترسره کولای.

خوراکي توکي نشته او په دغو دوه اونیو کې بیې دو چنده شوي او ډیری هټۍ او پلورنځي بند دي.

...»


شهادت
نصر من الله وفتح قريب
الله اكبر
الله اكبر
الله اكبر
موافقت نامهٔ تاریخی بین برادر حکمتیار امیر حزب اسلامی افغانستان و برادر احمدشاه مسعود به امضا رسید

د شهادت خپرونې په سرټکو کې، د حزب اسلامي مرکزي خپرندویه، (۱۳۷۱ کال د غبرګولي ۷مه) لولو چې د ۱۳۷۱ کال د غبرګولی په ۴مه د امیر تایف، اعجاز الحق (د ضیاالحق ځوی) او جنرال حمیدګل په شتون کې «د ورور حکمتیار د حزب اسلامي امیر او ورور احمد شاه مسعود تر منځ تاریخي هوکړه لاسلیک شوه.»

او په ادامه کې پلخمري، مزار، سروبي، جلال‌آباد او پاکستان ته د کابل ښاریانو د تیښتې په اړه راپور ورکوی.

د اخواني ګوندونو تور تاریخ او په ځانګړې توګه د ګلبدین ګوند دا ښودلې چې دوی په سوله اصلا باور نلري ځکه یوازې په جګړې او وژنو او ځناورتوب او د افغانستان بې‌ثباته کولو سره کولای شي خپل باداران خوشحاله کړي او له هغوی

ځخه بې‌شمیره امکانات او واک او وسلې تر لاسه کړي. نن هم امریکا ظاهراً غواړي خپله پښنه له قضې ځخه بهر کړي او د ګلبدین ریاکارانه امریکایي ضد ځیره وساتي، د اروپایي ټولنې له لارې ډیر زیات مالي امکانات دغه کرغېړن امیر ته ورکوي او د سولې تر نامه لاندې هغه او د وژونکو قافله یې کابل ته راوړي، او غواړي چې په افغانستان د خپلو سیالانو لکه روسې، چین او ایران سره د مخامخ کیدو تیاري نیسي او بس. جګړه‌ماران د سولې استازي نشي کیدلي ځکه دوی ښه پوهیږي چې د سوله‌ایزه او آرامه فضا کې، دغه ویني‌ځښونکي او کرغیړن باندونه د خلکو په منځ کې ځای نلري او بې‌ارزښته ژوند یې پای ته رسیږي او آن وینې‌ځښونکي مشران به یې لکه د بنګله‌دیشي ورونو په له محاکمې او سزا سره مخ شي.

له همدې کبله، میرمن پاتریشیا ګاسمن – په افغانستان کې د «بشر د حقونو د څار» سازمان سر څیړونکي په یوه لیکنه (۱۳۹۶ کال د غویی ۱۵مه) کې نظر ورکړی چې «حمکتیار د واک لپاره راغلی، نه د سولې لپاره»:

> «[ګلبدین] د موټرونو له کاروان سره چې له وسلوالو سړیو ډک ول له راکټونو او مسلسل ټوپکونو سره بدرګه کیده. د حکمتیار کاروان د ښار له منځ ځخه داسې تیره چې ګواکې یو اتل لیږدوی نه یو بدنامه او شړل شوی جګړه‌مار چې په جنګي جنایتونو تورن دی او د خپل پخواني واک ترلاسه کولو په هڅه کې دی.»



د امریکا دولت، د نړۍ کرغېړن ربړونکی
کارتونیست: پیټر بروکس Peter Brookes



اعلامیی

# عفرین،
# د کوبانی حماسه به تکرار کړي!



د ۲۰۱۸ کال د جنوری په ۲۰مه، د ترکې فاشیست دولت د خپلو جنایتونو په ادامه، په رسمی توګه اعلان وکړ چې د «پی.کی.کی ترهګرو» او داعش ځپلو لپاره په عفرین برید کوی. دغه زورواکی او جنایت‌روزونکی دولت د کورنیو او نړیوالو غولولو لپاره، داعش ډله یی هم دغې سمې سره غوټه کړه خو ټولو ته معلومه ده چې ددغې ځناورې ډلې ټغر نړدې له ټولې سورې راټول شوی دی او په ځانګړی توګه په عفرین او د هغې ګردچاپیره د هغې هیڅ خبر نشته. له ټولو مهمه د معتبرو سرچینو راپورونو له مخې، د اردوغان دولت د داعش له سترو ملاتړو څخه دی او پر کوبانی د برید پر مهال ترکي پوځیانو د داعش په جامه کی ګډون درلود. لېرترلېره له وینې‌څښونکی ګلبدین، چې د «کابل قصاب» په نوم مشهور دی، سره د ترکې نږدې او پخوانی اړیکی، ددې ښکارندوی دی چې دغه زورواکی دولت له کرغیړنو ځواکونو څخه ملاتړ کوی. سربیره پر دې، د اردوغان وینې‌څښونکي دولت هماغه پخواني داعشیان یی «د آزادې سورې پوځ» په نامه تمویل او په وسلو سمبال کړل او د ترکې رسمی پوځ تر څنګ یی ددغې سیمی په بدمرغه خلکو ورخوشی کړل. د ترکې اخوانی دولت چې د کورد له بدمرغه ولس سره پخوانی دښمني

لري، هیڅکله نه غواړي په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړي له عدالت او آزادۍ څخه برخمن شئ له همدې کبله پرلپسې د هغوی پر وړاندې توطئې جوړوي او له زور او ویرې څخه کار اخلي.

عبدالله اوجالان، د کوردي مبارزانو بندي مشر درې کاله وړاندې د عفرین ولایت په اړه ګوتڅنډنه کړی وه: «نن، هغه ورځ نده چې د تهکرو اوبدلو کارخونې جوړې شي. د وسلو او مهماتو جوړولو کارخونو ورځ ده، د جنګي کمونیزم رامنځته کولو او د ټولنې په منځ کې د هغې ځواکمنولو ورځ ده.» او نن دا وړاندوینه په واقعیت بدله شوه چې باید سوک ته په سوک ځواب ورکړل شي.

د کورد د ولس ځلیدونکی تاریخ د دیني او غیر دیني ارتجاع په وړاندې له مبارزې او مقاومت څخه ډک دی او په ځانګړې توګه په کوباني کې د هغوی نه هیریدونکی مقاومت د هغوی تجربه ډیره کړه، چپ پاتې نشول او ددې خاورې د سړو او ښځو په غښتلو مټو خپل برخلیک ټاکي.

عفرین چې د سورې له درې کورد میشتو ولایتونو (عفرین، کوباني او جزیره) څخه یو دی چې په خپلواکه توګه د (دموکراتیک اتحاد ګوند – پي.وای.دي) له لوري اداره کیږي او له ۲۰۱۲ کال راپدیخوا امنیت پکې ټینګ ده، نور قومونه لکه عربان، ترکمنان، آسوریان، یزدیان، ارمنیان، آرامیان او چچنیانو هم پکې اوسیږي. نن ورځ «د سورې دموکراتیک ځواکونه» چې د «خلکو مدافع واحدونو–ی‌پ‌ګ» له زړورو سرتیرو څخه تشکیل شوی نور میلیتونه او په ځانګړې توګه عربان له عفرین څخه د دفاع لپاره یو د بل ترڅنګ په کلکه ولاړ دي. سربیره پر دی د عفرین اوسیدونکی او زړو ښځو هم وسله اخیستی او په میړانه د ترکې وسلوال پوځ او پروني داعشیانو پر وړاندې جنګیږي.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د افغانستان ویرجن ولس په استازیتوب چې د کوردانو په څیر د بنسټپالو له ځناورتوب او جنایت څخه، د سیمې له ارتجاع او د امپریالیستي هیوادونو له لاس‌وهنې څخه رنځ وړي او هره ورځ په ځان‌وژنو او چاودنو کې خپل خپلوان له لاسه ورکوي، د عفرین له مبارزانو څخه ملاتړ کوي او هیله لري چې د دې سیمې خلک هم د کوبانیانو په څیر له دغې جګړې سرلوړي راووځي. ددغو اتلانو مقاومت به د بندیوانو ولسونو په مبارزاتي تاریخ کې په غټو ټکو ولیکل شي. د نړۍ ټول مبارزان به اوِستا خابور، سکینه

جانسز، لیلا قاسم، جیلان اوزلاب، آرین میرکان و... د تل لپاره په یاد ولري.

کوردي جنګیالان چې حق لري د نړیوالو ځواکونو له دننني تضاد څخه د خپلې مبارزې په ګټه کار واخلي، باید هوښیار اوسي چې د امریکا جکړه‌مار دولت په دوستي و نه غولیږي ځکه ددوی تاریخ له دوکې او جنایت او له آزدۍغوښتونکو غورځنګونو سره ضدیت نه ډک دی. امریکا که په ظاهره او په سیمه کې د خپلو ګټو له مخې له کوردانو ملاتړ وکړ، خو یوه ورځ هغوی د شا لخوا په توره وهي چې همدا اوس هم د ترکې له ځناورو بریدو څخه یوازې «اندیښنه» لري او بس. د افغانستان خلک د سپینې ماڼۍ له جنایت‌روزنې او لاسوهنو څخه ترخه تجربه لري چې پایله یې دغه ناورینونه دي چې له څلور لسیزو څخه راپدیخوا زمونږ په هیواد کې جریان لري.

یوازې د کورد اتل ولس په کلکه اراده او ژمنې سره کولای شي د ترکې دولت د پرمختللې پوځي تکنالوژۍ په وړاندې وجنګیږي او ددغه ویجاړونکي پوځ خوله په خاورو ومږي. هغه ولس چې یو موټی راولاړ شي او په خپلو کتارونو کې د آوِستا خابور په څیر زړورې ښځې ولري چې د ځان په قربانولو د ترکَې ټانک یې له منځه یووړ، ماتې نشي خوړلی. په هماغه څیر چې د نړۍ ویښ وجدانونه د کوباني تاریخي مقاومت ترخنګ ودریدل، نن به هم عفرین یوازې پرې‌نږدي ځکه یوه حق‌غوښتونکې او پرمختللې مبارزه حتماً له ځانه سره د نړۍ پرمختللو ولسونو ملاتړ لري.

د عفرین په مقاومت‌کونکو سلام وایو او د هغوی ترخنګ ودریږو!

**د افغانستان همبستګۍ ګوند**

د ۱۳۹۶ د سلواغی ۳۰مه

پښتو ۱۲مه ګڼه، پسرلی ۱۳۹۷

د تاریخ له پاڼو څخه




# عبدالرحمن لودین، د افغانستان په روڼآندي خوځښت کې بلیدونکې «اورلګیت»




د «افغانستان همبستګۍ ګوند» زموږ د هیواد د تاریخ ریښتینو اتلانو او انقلابي څېرو معرفي کول د خپلو اړینو دندو څخه ګڼي، د خپلواکۍ د لارې زړورو مبارزانو څخه عبدالرحمن لودین درپېژنو چې د خپل ژوند په اوه دیرشتم پسرلي کې د بې رحمه نادرخان له خوا په دار وځړول شو هغه د سپېڅلو او زړورو روڼاندو یوه څرګنده بیلګه وه، چې خپل سر یې د خپلو هیلو په لاره کې قربان کړ او د ریښتینې مبارزې تګلاره یې موږ ته وښودله.

له همدې امله د مشروطیت دوران د پام وړ میړانو مبارزانو تاریخ بیاکتنه د نن ورځې نسل لپاره اړینه ده چې بهرني یرغلګر او د هغوی کورنې چوپړګر هڅه کوي چې د جګړو څخه دغه ستړی ولس په ګوابنونکو پلمو سره لکه تسلیم‌طلبی، له سیاست څخه تیښته، سیاست ضد او مدنی ټولنو له لاری هغو په کراره- کراره له ملی‌هویت څخه خلاص او نیواک او زورواکی منلو باندی روږدي کړي.

عبدالرحمن لودین (۱۲۷۲- ۱۳۰۹) چې د یوی مودی لپاره یی تخلص




«کبريت» وه د مشروطيت غورځنګ نامتو شخصيت، ليکوال، باجذبه شاعر، سياستوال او د بريتانويانو او د هغوی لاسپوڅو په وړاندې نه تسليميدونکی مبارز وه. هغه په ۱۲۷۲ لمريز (۱۸۹۳م) کال کې په کابل کې زيږيدلی خپلې زده‌کړې يې د رشديه (ثانوي) ترکچې د حبيبې په ليسه کې بشپړې کړې. نوموړي چې د پښتو او فارسی په ژبو لاسبری درلوده د اردو، ترکی او لږی انګليسی او عربی سره هم بلد وه. هغه لومړنی ځوان وو چې د محمود طرزی تر څارنې لاندې يې په «سراج‌الاخبار افغانيه» کی ليکنې او ژباړې کولی او شعرونه يې خپريدل. عبدالحی حبيبی «په افغانستان کی د مشروطيت غورځنګ» په کتاب کې د لودين له خولې ليکی چې مولوی سرور واصف، د لومړي مشروطيت له نامتو او وياړلو څيرو څخه وو او د حبيبې په ليسه کې د هغه د ادبياتو ښوونکې وه.

د لودين له ځانګړتياوو څخه يوه دا وه چې په څه باندې به يې فکر کاوه په هغه باندې به يې عمل کاوه، هاغه څه چې په خواشينې سره د نن ورځې په روڼ‌اندو کې نه ځرګنديږي. هغه په سپينو خبرو کولو او جديت باندې مشهور وه او د حقايقو څخه يې سترګې نه پټولې او د هغه له بيانولو څخه يې په خپل زړه کې ويری ته ځاي نه ورکاوه او کولای شو چې د هغه دغه ځانګړتيا د هغه څخه د پاتی شويو شعرونو په ټولګه کې په ځرګنده توګه ومومو. د حبيب‌الله واکمنی پر مهال، هغه د سياسي ليدلوری او انقلابی زړورتيا سره د دويم مشروطيت د پټو تشکيلاتو کينې اړخ د مشر په توګه وټاکه.

کله چې امير حبيب‌الله خان لومړنی روڼ‌آندی غورځنګ چې د «جمعيت سری ملی» (لومړی مشروطيت) په نوم يو ګوند کې جوړ شوي وه په خونړۍ توګه وځاپه او د هغې څخه ۴۵ تنه غړي ونيول شو، ۷ تنه په دار وځړول، ۳۶ تنه يی بنديان او ۲ تنو چې د ګوند سره يی خيانت او له دربار سره يی مرسته

کړې وه ډالۍ ورکړې، د ناتارۍ او ځناورتوب په دغه ډول کړکیچن وضعیت کې د مبارزې د دوام مسئولیت د لودین او د هغه د یارانو په غاړه شو، هغه ځوانان چې د افغانستان د خپلواکۍ او پرمختګ مینه‌وال ول، امیر حبیب‌الله یې د انګلیس استازی او د افغانستان وروسته پاتې کیدلو لامل ګڼلو.

په ټولنه کې د واکمنې ناتارۍ او زورزیاتی له امله دغو ځوانانو نه شو کولی چې په یو ګوند کې سره راټول شي، د نړیوالو انقلابونو او غورځنګونو لکه د شوروی جمهوریتونو اتحادیه، ترکیه، هندوستان، عربی هیوادونه او نور څخه په الهام اخیستنې سره، د یوی پټې او کوچنې ډلې په توګه یې په مطالعه پیل وکړ او خپلې جګړې ته یې ادامه ورکړه. یوه له ډیرو بنسټیزو ډولو څخه د لودین له خوا څخه رهبری کیدله. دوی په یوه پټه ناسته کې پریکړه وکړه، پاچا چې پرته له عیاشۍ او انګریزانو ته د خدمت کولو څخه کومه بله دنده نه لری، له منځه یوسئ او دغه دنده یې د لودین په غاړه واچوله. هغه د ۱۲۹۷ کال د چنګابښ په ۱۲ (۱۹۱۸ جولای ۴) په پاچا باندی په توفنچې سره برید وکړ.



په «سراج‌الاخبار افغانیه» کې خپور شوي انځور،
۱۲۹۲ کال د زمري ۱۳، دویم کال، ۲۲ ګڼه

میر غلام محمد غبار، مبارز تاریخ‌لیکونکې «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» (لومړی ټوک، ۷۲۰ او ۷۲۱ پانو کې» د دې پیښې شرح داسې کوي:

په ۱۹۱۸ کال کې (د مشروطه‌غوښتونکو له ځپلو څخه ۹ کال وروسته) د سراج‌الاخبار لیکونکې عبدالرحمن خان لودین (سیداحمد خان د تره زوی[1]) چې یو رادیکال او ګرم‌طبعیته ځوان وه، د امیرحبیب‌الله خان د زوکړې جشن په شپه د "شوربازار" قاضی کوڅې تر څنګ د هټې په بلۍ کې د هغه ګاډی په تمه ناست وه چې امیر په کې سپور وه ( په هغه وخت کې د یو پادشاه لپاره دا یو عام کار و چې د جشن او د کابل په روښانه شپو کې د ارګ له بازارونو او څلورلارو او شوربازار څخه به تیریده). همدا چې د

امیر ګاډی د نوموړی هټې تر څنګ راورسیده. عبدالرحمن خان په هغه باندی ډز وکړ او مردکی د ګاډی په باډی ولګیدلی، خو ګاډی په چټکې سره تیر شو او امیر روغ پاتی شو. سهار ته د کابل ښار د جاسوسانو څخه ډک شوي و او مرزامحمد حسین خان مستوفی‌الممالک { خلیل‌الله خلیلی مرتجع پلار} له بل لوری د قضې کشف په موخه راووت. د نامتو جاسوسانو له ټولګې څخه یو تن د "سرور د کونډی ځوی" وه چې په همدې بازارکې یی د سمیساری هټې درلودله او د مخه یې عبدالرحمن خان څارنه کوله (د عبدالرحمن خان کور د هغه له هټې څخه لږ پورته د تیرو توړلو په کوڅه کې پروت وه.)

په هر حال عبدالرحمن خان په زنځیر او غاړکۍ سره د دولتی ارګ په زندان کې بندی شو. د دی څخه وروسته یو ډله نور روڼ‌اندی چې د عبدالرحمن خان له دغه چاری سره یی تړاو نه درلود د هغه تر شا د ارګ زندان ته ولیږل شول لکه عبدالهادی خان داوی چې "پریشان" یی تخلص کاوه، عبدالحمید خان کمیدان، محمد اسحق خان قزلباش د محمد اکبرخان چنداولی زوی، شمس‌الدین خان د حربی ښوونځی پخوانې زده‌کونکی او شیر محمد خان په "افغان بیګ" مشهور د حربی ښوونځی محصل.»

لودین نه یواځې د پادشاه د ترور په ناکامه پلان او له زندان څخه د لومړی مشروطیت بندیانو په خوشې کولو کی پاتې راغی، بلکه خپله هم زندان ته واچول شو او په اعدام محکومه شو. د لومړی مشروطیت زندانیانو او د پادشاه د وژنې د تورنو ډلې (دویم مشروطیت) ژوند د ویښتانو په تار تړل شوی وو هره شیبه یی شونتیا درلودله چې اعدام شی خو پر هر لامل چې وو، امیر د دغه زندانیانو له ډلې څخه هیڅ یو تن اعدام نه کړ او د لغمان د کله‌ګوش په ښکارځاي کې د هغه تر وژلو کیدلو په زندان کې پاتې شول.

د ۱۲۹۷ کال د سلواغې په ۳۰ (د ۱۹۱۹ کال د فبروری په ۲۰) د حبیب‌الله له وژنې سره سم، امان‌الله چې ځوان او روڼ‌اندی شهزاده وو واک ته ورسیده او د خپل پلار د دوران ټول سیاسی زندانیان یې خوشې کړل او مهمې چارې یی وروسپارلی.

تر خوشې کیدلو وروسته، لودین یوه موده په «امان افغان» جریده کې

کار کاوه. په ۱۳۰۰ش کال کی د قانون‌جوړونی پلاوی غړی شو او په ۱۳۰۲ کال کې، بخارا ته د سفر کول ځانګړی پلاوي په توګه وټاکل شو. د شوروی جمهوریتونو اتحاد کې د سیاسي پلاوي غړی او په هغه هیواد کې د سفارت ځانګړی غړی وه. او یوه موده یې هم «مرکه دپښتو» علمی او څیړنیز ټولنې رئیس په توګه کار کړی دی.





از راست بچپ :
۱ـ غلام جیلانی خان اعظمی که‌زمانی معاون ریاست انجمن ادبی کابل بود .
۲ـ عبدالرحمن خان لودین متخلص به کبریت .
۳ـ محمد سعید خان حبیبی مشهور به «لالا» که از اولین گروپ متخصصین فارغ التحصیل افغانی در اتحاد جماهیر شوروی بود.

«په افغانستان کې د مشروطیت غورځنګ» له کتاب څخه اخیستل شوي انځور، د عبدالحی حبیبی لیکنه

په ۱۳۰۳ کال کې د شاه امان‌الله د سرمنشی مرستیال شو خو د امان‌الله خان سره یې د اصلاحاتو په چارو کې اختلاف نظر له امله، هغه ژر تر ژره استعفا ورکړه او کندهار ته راغی او په کور کې کیناست.

په ۱۳۰۳ کال کې د پغمان لویی جرګې له غړو څخه وه چې په خپل وار سره یې د هغه ملایانو په غلی کول کې چې نه یې غوښتل امانی اصلاحات ومنی په میړانې سره یی استدلال کاوه او خپل نظرونه یې څرګندول:

«دینی علما باید په هر کار کې لاسوهنه ونکړی او په هغه کارونو کې چې خدای ولس او حکومت خپلواکه کړی دی، باید لاسوهنه ونکړی. دا خبری دی ته ورته دی چې حکومت یوځای ته د سړک او یا پښیابله لارې غزول غواړی، نو په دغه وخت کې باید له علماو پوښتنه وشي چې په کوم ځاې کې پولچک کیښودل شي، او د ملا له اجازی څخه پرته دا کار ونه شي...» («د دارلسلطنه د لوې جرګې یوه پیښه»، ۱۳۰۳، ۲۸۵ او ۲۸۶ پاڼه)

شاه امان الله خان کندهار ته د سفر په مهال (۱۳۰۵) د شاروالې ریاست

فعال کړ او لودین یې دی ته اړباسته چې اداره یې کړي. نوموړی په صداقت او پاک لمنې شهرت درلود، د یو کال څخه وروسته یې د کابل گمرکاتو په ریاست کې مقرر کړ ځکه چې د کابل گمرکاتو ریاست د فساد مرکز وو تر څو هغه د فساد څخه پاک کړي.




لودین د هغه ټولکې روښاندو څخه نه وه چې د دربار سره یې اړیکې او د دولت لوړو او حساسو پوستونو کې کار کولو هغه د خپلو خلکو او هیواد سره له مینې څخه بې برخې کړی وای، او د جوړجاړی او معامله کولو لاره یې خپله کړی وای. هغه د ۱۳۰۶ کال په لویه جرگه د شاه امان الله په بیړنۍ توگه د ځنیو اصلاحاتو په پلې کول کې لکه د ښځو حجاب لرې کول د نیوکې لاندې ونیول، او ټینگار یې کاوه چې دغه اصلاحات ښه او اړین دی خو په هغه وخت کې نه چې انگریزان د زرگونو چال او دوکو سره د توطیې په حال کې دی او په بشپړه توگه د نوی دولت نسکورول غواړي. او همدا شان هم وشو. لودین استعفا ورکړه او د لږ وخت په تیریدلو سره د داخلې او بهرنیو توطئو په پایله کې د ۳۰۰ تنو وسلوالو له خوا چې سپکو وسلو څخه یې پرته څه نه درلودل د یو ډاکو په مشرۍ یې د امانې دولت نسکور نکړ.

لودین له هغو لومړنیو کسانو څخه وو چې د حبیب‌الله کلکانی واکمنۍ پر مهال زندان ته واچول شو. آوازه شوه چې اعدام شوی دی. میر غلام محمد غبار «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» کتاب (د لومړی ټوک، ۷۲۳ پاڼه) کې لیکې: «دغه خبر د روښاندو په ټولگه کې د تندر په شان اغیز وکړ آن د میمنه‌گې ځوانانو څخه یو تن د دې پیښې په تاثیر سره یوه شعر ولیکه او ماته یې راکړ». خو دغه آوازې ریښتیا نه وی او له یو څه مودې وروسته خوشی

شو. په طبیعي توګه د دغه پادشاه په دوران کې چې د پوهې او پرمختګ دښمن او د انګلیس ګوډاګی وه د لودین په شان مبارزانو او روڼاندو ته شرایط سخت شوي وه.

د نادرخان په منځته راتګ سره، د نوموړي رژیم په وړاندې د روڼاندو بې‌باوری، شک او ګواښونه بې لوري نه وو، هغه د خپل لومړي کربښې مخالفانو په له منځه وړلو سره خپله واکمني ټینګه کړه، او ډیر ژر د دغه جلاد ریښتیني څیره بربنډه شوه او پر هیواد مینو او د انګریزانو ضد روڼاندو په ځپلو یې پیل وکړ. تاج محمد خان پروانې یې په شیرپور کې توپ ته وتاړه؛ فیض محمد خان باروت‌ساز چې یوه پښه یې درلودله او له بلې پښې څخه په زولانو تړل شوی وه په توب باندې ټوټې ټوټې شو او ویل کیږي چې هغه د اعدام په وخت کې نادر شاه ته ډیرې سپکې سپورې وویلې؛ غلام محی‌الدین خان آرتې یې په پیښور کې ترور کړ؛ د غلام محمد غبار سره بخت یاري وکړه او اعدام نه شو، زنداني او تبعید شو. برسیره پر دې مرزا عبدالرحمن خان، سعدالدین خان وکیل، انور خان بسمل او نور زندان ته واچول شول.

جلاد نادرخان، عبدالرحمن خان لودین چې په هغه وخت کې د کابل ښاروال وو په دوکې سره د دلکشا ماڼۍ ته راوغوښت او په بشپړې آرامی یې هغه سره خبرې وکړې د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته یې په پټه خپلو پوځي ساتونکو ته امر وکړ چې هغه په ډزو ووژنې، په دغه ډول زموږ د تاریخ دغه ستر شخصیت په داسې حالت کې چې ۳۷ کاله عمر یې درلوده د ۱۳۰۹ کال د زمري په ۳ (۱۹۳۰ کال د جولای په ۲۵) د ارګ ساعت برج تر څنګ د خپلو سترو آرمانونو په لاره کې سر ورکړ او د ټولو په زړونو کې تل پاتې شو.

پرته له محاکمې څخه د لودین په اعدام کولو کې د نادر خان بیره سید قاسم رشتیا د نادرخان د سرمنشی، میرزا محمد خان او حافظ نورمحمد خان کهګدای له خولې داسې بیانوي:

> «لکه څرنګه چې د شمالي لور ته د بلوا دویمه پیښه تر سره شوه، عبدالرحمن خان د کابل ښاروالۍ رئیس د کابل خلکو مسلح کولو لپاره د یو شمیر وسلو غوښتنه وکړ. نادرخان په هغه شکمن شو او په هغه وخت کې چې عبدالرحمن خان د پادشاه اوامر په خپله کتابچه کې نوټ کول نادر شاه د هغه د لاس څخه کتابچه واخیستله او شپه یې ولوستله. د هغه ټول یاداشتونه او انقلابي شعرونه یې ولوستل. سهار ته یې نوموړی د وزیرانو غونډې کې

خپل حضور ته راوغوښــته او د نوموړی د یاداشتونو له مخې یې د خپـل ځان په وړاندی د هغه مخالفت د هغه مخ ته راوویســتل نو دغې مجلس امر وکړ چې هغه اعدام کړی.»

د لودیـن څخه د نــادر ویری کوم بل لامل نه درلــوده: لودین هغه څوک وه چې په ټینګې اراده سـره یې پریکړه کړی وه تر څو امیر حبیب‌الله خان په خپلو لاسونو باندی له منځه یوسی؛ د نادرخان له خوا د شاه امان‌الله خان د سـلطنت وکیل ولی خان دروازی د فرمایشی محاکمې په لړ کې، لودین نارې سـورې وکړی چې «په نړۍ کې له دغې محاکمې څخه بله زلنده محاکمه نه ده تر سـره شـوی چې د ولی خان په شـان کس د محاکمه کولو لپاره د بچه سقاو په پلوی چې کوم تورونه او شاهدان د ولی خان په وړاندی راوړل شوي وه، ټول د بچه سقاو ملګری او پلویان دي. له ګیدړ څخه وپوښتل شول چې شــاهد دی څوک دی؟ په ځواب کې یې خپله لکۍ وخوځوله او ویویل دا زما شاهد...». د لودین میړانی، پاک‌لمنی او ریښتینوالی څخه پرته بل څه نه وو چې د نادر خان په خپل زړه کې له هغې څخه ویره وکړی.

د انګریزانــو خوشــحالولو او هغوی ته د خپلې مــزدورۍ ثابتولو لپاره نادر یوازې د انقلابی روڼ‌اند په له منځه وړلو یې بســنه ونکړه، د نورو مبارزانو د ســپکاوی او ویرولو لپاره یې د لودین مړی په خر باندی د هغه ښـځې خواته ته شـوربازار ته ولیږه او د هغه کورنې یې دې ته اړباســتله چې سم د لاسه د شهدای صالحین په هدیره کــې پرته لــه کوم نــوم او نښان او پرته له هیڅ ډول مراسمو خاورو ته وسپارل شی.



ویـل کیږی چـې د عبدالرحمن لودین مقبره د شـهدای صالحین «پنجه شـاه» په غاړو ځنډو کې موقعیت لری. په خواشـینې سـره «همبسـتګۍ‌ګوند» د پراخـو هڅو په کولو سـره تر اوسـه ونه‌کولې شـو چې د هغه سـمه پته وموميـ تـر څو د هغې پـه بیاجوړولو لاس پـوری کړی. هغـه ملګری چې په دغه برخه‌کې لا ډیر معلومات لری له موږ سره دی په اړیکه کې شی.

د نــادر زلنده رژیم چې د مخالفانــو په وړاندی یې د مکیز او دوکې په ســپک سیاست لاس پوری کاوه، د لودیـن پـه وړانـدی یی هم د هغه د شهادت څخه وروســته د درواغو تورونه په هغه پوری کړل. دولتی




مجلې «اصلاح» د ۱۳۰۹ کال د زمرې په ۳ نېټه کې په ۶۷ ګڼه کې زموږ د تاریخ د دغه ځلانده شخصیت د اعدام یو لنډ او دردونکې خبر خپور کړ:

د «اصلاح» ۶۸ ګڼه (۱۳۰۹ کال د زمرې په ۷) یوه بشپړه پاڼه د لودین په وړاندې د درواغو او سپکاوی تورونو ته ځانګړې شوې وه تر څو د هغه د شهادت څخه وروسته بدنومې کړې او د هغه اعدام کول ښه ښکاره کړې. په دغه لیکنه کې لودین یو «فطرتاً فاسد او په جوړښت کې خیانت نغښتی» کس نومول شوی دی، د حبیب‌الله کلکانی سره په مرستې تورن او د «شمالی اشرار» و نومول شو. د جرم لاسوند هم د یادابښت یو کتابچه عنوان شوی چې «په تاریخ‌وار ډول ټوله د هغه په خاینانه قلم په مختلفو وختونو کې لیکل شوی وه د حکومت لاس ته ولویده چې ددې کتابچې ټول مواد د هغه د کرغیړنو او منافقانه افکارو ښکارندوی وه.» او ددې ترڅنګ د هغه د دفتر او کور لټون په هکله هم لیکل شوی چې «څو بوتله شراب هم د هغه له کور څخه لاس ته راغلل او د بی‌دینۍ او کفر هغه لاسوندونه چې هغه د اسلام او عالمانو او روحانیت سپکاوی په اړه لیکلی وو هم کشف شول.»

په داسې حال کې چې د لودین د قتل حکم پرته له محکمې څخه خپله نادرخان ورکړی وه، د درواغو په دغه لیکنه کې دا هم لیکل شوی وه چې د زمرې په دریمه، «په یوی ځانګړې غونډه کې چې د وزیرانو او یو شمیر علماو او سلاکارانو پلاوی په کې ګډون درلوده» او د «محکمې پلاوی» په وړاندې ګواکې د «ملی خیانت او هیواد ته خیانت پر هغه ثابت شو» او د اعدام حکم یې په یو «لنډه محکمه» کې اعلان شو او هماغه ورځ «د هغه د اعدام چارې هم تر سره شوی.»

د کرغیړن نادرخان د داخلي چارو وزیر ګل محمد خان مهمند دا دنده په غاړه واخیسته تر څو لودین چې د خلکو او روڼ‌اند په منځ کې یې ځانګړی ځاي درلود بد نومی کړی. هغه د کابل چوب‌فروشی جومات پر منبر پورته شو او لودین یې لومړی کافر، مرتد او ملحد وباله، وروسته یې خلکو ته د شرابو یو بوتل ښکاره کړ ترڅو دا جوته کړی چې دا یې د هغه کور څخه د تفتیش په وخت کې موندلې دی. په داسې حال کې چې د تفتیش په مهال کې

په اصل کې هغوی د لودین د ټولو لیکنو په لټه کې ول تر څو آزادي‌غوښتونکی او آزاد فکره آثارو څېړول مخه ونیسی. په همدغه ډول هغه شعرونه او مقالې، د پښتو بشپړ قاموس په دوه ټوکه کې، د ژوندانه خاطرات، د معاصر رجال تذکره، د ترکې او نورو ژبو څخه د مختلفو نظامنامو ژباړې چې لا تر هغه مهاله نه وو چاپ شوی ټول ونیول شول او له منځه یې یوړل.




له هاغه ځایه چې چل او دوکه او رذالت د نادري زورواکه رژیم له ځانګړتیاو څخه وه، د عبدالرحمن لودین تر اعدام وروسته یې، هغه پسې درواغجن تورونه په رسنیو کې خپاره کړل.

ویل کیږي چې د امانی رژیم په کړکیچنو ورځو کې لودین یو اوږد لیک د «معروضات عاجزانه» تر سرلیک لاندې خپل وړاندیزونه او لیدلورې د ولي‌خان دروازي په لاس شاه امان‌الله ته ولیږه چې د معلومات پر بنسټ هغه په لاس لیکل شوی متن چې احمدولي سروش، د ولي‌خان دروازي ځوی سره وو هیڅ کله یې هغه خپور نکړ.

**د مثال په توګه چیری... ملایانو او شیخانو او ړیرورو راشی او حکومت ونیسی، نو ړیره‌خرونکو ژوند ته دی خیر وی تر ټولو د مخه مولوی صاحبان خپل ځان په دغه بالعموم ډلی باندی غازی ګنی.**

د ۱۳۰۲ کال د لیندۍ ۲
د لودین لیک شاه امان‌الله ته

نادر فکر کاوه چې د ولس په وژلو لو ربړولو سره کولی شي د خپلې زلنده واکمنۍ لپاره شرایط چمتو کړی او یو څو ورځې ډېر حکومت وکړی. خو هغه په ریښتیا سره تیروتی وو. شهید سیدکمال د نادرخان ورور یې په برلین کې له منځه ویوړ او تر هغه وروسته عبدالخالق خان قهرمان د محمود او نورو په ملتیا سره په ځوانه

ځوانۍ کې د هیواد آزادغوښتونکو مبارزانو څخه په الهام اخیستنې سره، د عدالت پلې کول یې په خپل لاس کې واخیستل، او په خپلو لاسونو یې دغه تاریخې ننګ ته د پای ټکې کیښووده.

د لودین شعر «نعره»، د هغه د ټولو انقلابی افکارو آیینه ده چې د لومړی نړیوالې جګړې په دوران کې ویل شوی دی:

# نعره

**ای ملت از برای خدا زودتر شوید**
**از شر و مکر و حیله دشمن خبر شوید**
**تا از صدای صاعقه‌اش گنگ و کر شوید**
**وانگه چو رعد نعره‌زنان دربدر شوید**
**مانند برق جلوه‌کنان در نظر شوید**

**از یک طرف نهنگ و ز دیگر طرف پلنگ**
**هر دو بخون ما دهن خویش کرده رنگ**
**اکنون که گشته اند بخود مبتلا ز جنگ**
**جهدی کنید بهر چه هست این درنگ**
**در حفظ راه حق همه تیغ و سپر شوید**

**این وقت فرصت است نهنگام جشن و سور**
**هر کس که فوت میکندش میشود کفور**
**بس در همین خلال و چنین حال و این فتور**
**تیزی و سعی و همت تان اینقدر ضرور**
**تا از برای چشم عدو نیشتر شوید**

**امروز در تمامی عالم چه شور و شر**
**برپا و ما نشسته از آنجمله بیخبر**
**نی فکر سود نی سر سود ایمان بسر**
**افسوس بر فلاکت حال چنین بشر**
**باید ز شرم آب ز پا تا بسر شوید**

الله عالم است که این خصم بدسرشت
اینحب حب خویش چسان کرده است کشت
تا هیچ فرق کرده نیاید ز خوب و زشت
نقشی چنین بساط ببایست در نوشت
ترسم خدا نخواسته زیر و زبر شوید

خصم بزرگ خویش شناسید انگلیز
زان پس عدوی دیگرتان است روس نیز
در این زمانه عهد نیر زد بیک پشیز
دارید ملت و وطن خویشتن عزیز
با اتحاد جمله چو شیر و شکر شوید

حاضر کنید اسلحه کوبید طبل و کوس
آرید روبجنگ چو عثمانی و پروس
تا حلق انگلیز فشارید و نای روس
در جاغر تفنگ گذارید کارتوس
چون شیر راست سوی مخالف بدر شوید

باری بسیر سوزن ساعت نظر بدوز
در لمحه‌ها و لحظه و ساعت گذشت روز
همواره در تلف گذرد عمر ما چو یوز
افتاده ز بهر چه استاده‌گی هنوز
چیزی شوید یا کم و یا بیشتر شوید

ای غافل از زمانه و شاغل به لهو و گلف[۲]
با دشمن خبیث کسی کرده است حلف؟
خود فکر کن عدو نکند چون ز عهد خلف
باید گریست بر سر این احمقی و جلف
تا چند برای دیدن حق کور و کر شوید

زینسان که در کلاه و فراکوت و بوت نو
از رشک میبرید یکی از دگر گرو
ترسید ز انگلیز چو اطفال از ببو
تا کی پس از دریژ نگویید زیر زو
یکبار لازم است بعزم سفر شوید

این کرچ راست در کمر و جیغه در کلاه
بس وضع خوب و فیشن روز است واه واه
اما چه عیب روشن و بی‌همتیست اه
کین هر دو محض بهر نمایش شود نگاه
باید برین حمیت خود نوحه‌گر شوید

از حال پر تاسف این ملت نجیب
خواهم بیان کنم بحضور تو ای ادیب
تا کی که بشنوی یاالله و یا نصیب
زین داستان نغز چنین قصه‌ی عجیب
بهر شنیدن سخنم گوش اگر شوید

کردند خائنان جفاکیش بیفروغ
آقایی زمانه همه بهر خود قروغ
جهل و نفاق و بیخبری غفلت و دروغ
انداخته بگردن ما حلقه چو یوغ
گویند در اطاعت ما گاو و خر شوید

گر مستبدی ز روی جهالت عتاب کرد
یا غیر حق کدام کسی را عذاب کرد
یا بهر نفع خویش جهانی را خراب کرد
ناچارش عقل عالم و آدم خطاب کرد
تا کی بکشف حال چنین خیره سر شوید

**هر کجا که جاهلیست پر از جهل و ابلهی**
**تفتیش در معارف ما میکند زهی!**
**چشمش پر از حرام دلی از خرد تهی**
**پس ای برادران چو چنین است گمرهی**
**بهر خدا از حال وطن باخبر شوید**

**بر نقد و جنس مالی ما خائنان امین**
**در مجلس سیاسی ما جاهلان مکین**
**نی فکر و هوش و قلب نه وجدان عقل و دین**
**تا بهر انتباه صدائی کشد چنین**
**کی غافلان زخواب تنعم بدر شوید**

**هر یک نشسته است به زین آنچنان تلک**
**کس نیست غم ز ملت و پرواش از ملک**
**با صد غرور و کبر همیتازد اسپ دک**
**کس نیست تا بسینه ایشان کند شلک**
**خوب ای خران چرید که تا چاغتر شوید**

**هر لحظه چون خیال چنین حال غم فزا**
**آید بسر ز جوش شود فرق من جدا**
**دایم بآه و ناله و افغان کنم نگاه**
**اندر هجوم اشک همیگویم این دعا**
**کی ظالمان خاک بسر دربدر شوید**



د عبدالرحمن لودین د لیکنو یو بیلګه چې «د ولس د اتفاق سپیڅلې غورځنګ» تر سرلیک لاندې د «سراج‌الاخبار افغانیه»، ۲۳ ګڼې، په څلورم کال کې، ۱۲۹۴ کال د زمرې په ۵ نیټه خپره شوې



کاکا سیداحمد خان لودین

(۱) کاکا سیداحمد خان (۱۳۰۶ کال د کب په ۱۴ مړ شوی) د لودین پلار، چې په کندهار کې زیږیدلی هم د لومړي مشروطیت یو له فعالو مبارزانو له ټولګې څخه و چې یولس کاله یې د امیرحبیب‌الله په زندان کې تیر کړي. د شیرعلی خان په وخت کې یې حربی ښوونځې ولوست، د سیمې د ریاضي‌پوهانو له ټولګې څخه وو او ناچاپه کتاب «خلاصه الحساب» یې ولیکه او څرنګه چې د سواد زده‌کړې سره یې مینه درلودله، د پاخه عمر لرونکو کسانو لپاره یې د سواد زده‌کړې لومړنی کتاب د « کاکا اصول» په نامه ولیکه چې په هند او پاکستان کې هم د هغه اصول په کار وړل کیدل.

(۲) امیر حبیب‌الله خان د ګلف لوبې سره مینه درلودله او هر ورځ یې په چمن حضوری کې د ګلف لوبه کوله.



# خاین واکمنان

کارتونیست: لوک ورنیمین
Luc Vernimmen

زورواکي او د خلکوضد واکمنان په ظاهری بڼه په ټولنه کی «امن او نظم» رامنځته کوی خو دغه نظم د آزادی، عدالت او دموکراسی تر پښو لاندې کولو او د زرګونو بیګناه انسانانو بدمرغه کولو په بیه ولاړ ده. پینوشه، سوهارتو، تروخیلو، باتیسا، زین‌العابدین بن علی، فوجیموری، حسنی مبارک او لسګونو نورو کرغېړنو زورواکو د بیګناه وګړو د وینو په بدل کی زړه راښکونکی مانۍ جوړې کوې خو د ولس د غوسې توپان سره مخ شول، او تاریخ ډیران ته وغورځېدل.






# د مذهبی زورواکی په وړاندې د ایران د خلکو څپانده غورځنګ نه ماتیدونکې دی!




یو ځل بیا د ایران مبارزو او پوهه ولس، د «ولایت فقیه» کرغیړن او زلنده رژیم په وړاندې په بشپړه میړانې سره راپاڅیدل. په داسې حال کې چې موږ د دې هیواد د مبارزو او ژمنو ښځو او سړو څخه په عاجزی سره زده کړه کوو، د مذهبی وینوڅښونکو په وړاندې د ولسیزو خوځښتونو څخه خپل بشپړ ملاتړ اعلان‌وو او د هغوي تر څنګ ولاړ یاستو. که چیرې ایران د خمینیانو، خامنه‌یانو، خلخلی‌یانو، خاتمیانو، روحانیانو، رفسنجانیانو، محمدرضاشاه، شاهرودیانو او د دوې په شان د نورو بدنامه خاوره ده خو له بل اړخ څخه د گلسرخی‌یانو، کمانگرانو، احمدزاده‌یانو،اشرف‌یانو، جزیی‌یانو، ایکویی‌یانو، وکیلی‌یانو، سلطانپوریانو، فراهانی‌یانو او زرگونو نورو ځلانده ستور خاوره ده چې په خپلو وینو سره یې د تاریخ په پاڼو کې د انسانیت سره مینه او آزادی ولیکله. نن ورځ د هغوی وینو څخه په ځواک اخیستلو سره ده چې یو ولس راپاڅیدلې او د غلو او خاینانو د بدن په غړو یې لړزه راوستی ده.

د خلکو اوسنی پاڅون د کروبی او موسوی د «شنه غورځنګ» او د رژیم د نورو کرغیړنو مهرو له ډلې څخه نه دی چې په خندونکو

شعارونو سره «زما رای چیرته ده؟» په حقیقت کې د ناتاری او جنایت په ادامه باندی د تایید مهر لګوی. (چې په افغانستان کې هم یو شمیر د هغوي د چارو څخه د بیزو په څیر په پیښو کولو سره «زما نوم



د «ولایت فقیه» کرغیړن رژیم په وړاندې د ایران د خلکو د پاڅون یوه صحنه

چیرته دی؟» په لاره واچاوه» دغه غورځنګ د خلکو د پوهاوی پورته کولو لپاره، خپل ستروالی د «وژنم وژنم هغه چا چې زما ورور وژلی»، «مرګ د ولایت فقیه پر اصل»، «مرګ پر دیکتاتوری»، «جنګیږو مړه کیږو ایران بیرته نیسو» او ... په شعارونو سره په ډاګه کړه چې په همدې لامل یې زلنده دستګاه ولړزوله او سم د لاسه یې په ځناوریزه توګه د هغوی په ټکول لاس پوری کړ. د شل ورځو په لړ کې د شلو تنو څخه ډیر په واټونو کې په ډزو وویشتل شول او په شهادت ورسیدل او د دوی د اعتراف له مخې لږ تر لږ ۳۷۰۰ تنه ونیول شول چې د نیول شو له ټولګې څخه ۲۲ کلنه سینا قنبری او وحید حیدری د ځناوریزو ربړونو څخه وروسته د رژیم په وژنځای کې خپل ژوند له لاسه ورکړ خو د خپلو جنایتونو پټول لپاره یې دواړه پیښې «ځان‌وژنه» اعلان کړلی. خو د بخښنې نړیوال سازمان د پنځو تنو بندیانو مړینې راپور ورکړی.

ناپیلون یو ځل وویل چې د هر لښکر سره جګړه کولی شو پرته د وږو له لښکر څخه، خو په ایران کې، دا یوازې ولږه، بې وزلی او بدمرغي او «په قبرونو کې ویده‌کیدل»، «په کارتنونو کی سملاستل»، «ځځلو راټولول» په شان پدیدی او د شتمن او غریب تر منځ په بې‌ساری توګه د واټن ډیریدل نه ده چې د خلکو د راپاریدلو لامل شوی دی، بلکه د ربړونکې او زلنده رژیم د سر او مخ څخه د وینو بهیدل دی چې وږی او لوټل شوی خلک یې سیاسی کړی دی او نور نه غواړی چې دغه رنځونکې وضعیت چې د وینوڅښونکو او کرغیړنو دینی‌ټیکدارانو تر ولکې لاندی وزغمی. د ایران خلک نشی کولی چې د څو لسیزو په لړ کې د خپلو زرګونو ریښتینو ځامنو د ودریدنی او میړانی یاد چې فاشیستو

آخوندیانو له خوا په شهادت ورسیدل هیر کړی او د زیارکښانو د صبر کاسه هم ډکه شوی ده. د فرزاد کمانګرانو، سعید سلطانپوریانو، ستاره بهشتیانو، ندا آغاسلطانانو، مجید کاووسی‌فریانو، شیرین‌علم‌هولی‌یانو، فرهاد وکیلی‌یانو، شاهرخ زمانیانو، جعفر پوینده‌یانو او د زرګونو نورو سر لوړو او معتبرو شخصیتونو د سپیڅلو وینو ځواک دی چې د ایران د خلکو د آزادی بنسټ لاپسی ځپانده کوی چې وینې‌څښونکې رژیم په خپلو ځپو کې ژر یا وروسته له منځه یوسی.



له دی سره چې دغه غورځنګ لا تر اوسه هم یو موټی او پرمختللی سازمان‌ورکونی ته اړتیا لری، خو لویوالی یی په دی کې دی چې د مذهبی رژیم په مختلفو ډلو، چې ټول یو ډول ماهیت لری، توره کرښه راکاګری او هغوی هم په عملی توګه په یوه کرښه کې د پاځونکو په وړاندی ولاړ دی که څه هم په خبرو کې «اصلاحات‌غوښتونکې» هڅه کوی د ولس په دوکه کول سره د خلکو غوښتنی مشروع وبلی. دوهم دا چې دغه ولسیز پاځون، د مرتجع اپوزیسیون ډلو ته لکه سلطنت‌غوښتونکی او نورو ته هم ارزښت ورنکړ او هغوی یی خنډی ته وغورځول.

د ایران خلک باید په دی وپوهیږی چې د انقلابی رهبری څخه پرته پاځون د ماتی سره مخ کیږی او یا به په نیمه لاره کې وشیندل شی. نو دا د ایران پرمختللو ځواکونو دنده ده چې په دغه شرایطو کې د اصلی شعارونو له مخې سره یوځاي شي، او هغې ته د لوری په ورکول کې خپله ونډه تر سره کړی او په دغه ډول د ارتجاعی ځواکونو او لویدیځ او امریکا چوپړانو ته ډګر راتنګ کړی. یوازی دغه ډول غورځنګ کولی شی چې بریالیتوب ته ورسیږی د مظلومانو لپاره هیله‌مندی او د نیکمرغیو راوړونکې اوسی.

دا د ټولو مرتجع او خلکوضد رژیمونو دود دی چې د ولسیزو خوځښتونو بدنامه کولو لپاره، پر هغوی باندی سپک تورونو لګوی او

هغـوی په هغه او دغـه هیواد پوری تړلی «د پردیو دسیسـه» او بهرنۍ استخبارات ښکاره کړي. د «ولایت فقیه» شراچونکې رژیم هم له دغې وسلې څخه کار واخیست او د خلکو د غوسی راپاریدلو لامل یی د امریکا، موسـاد، عربسـتان او نورو لاسوهنه ښـکاره کړه. په دی کې هیڅ شک نه شـته چې غربی او سـیمیز هیوادونه هڅه کوی چې د پاڅونکونکو په لیکو کې نفوذ وکړی، او هغوی له خپل لوری څخه منحرف او شـعارونو ته یی په خپله ګټه بدلون ورکړی، خو ریښتیا دا دی هغوی چې امریکا تـه هیله لری چی له چوپړانو سـره یی جوړجـاړی وکړی او ګواکی ایران او خپـل خلـک وژغوری، د خلکو په منځ کـې پیریدونکی نه لری. او له بل لوری څخه د ایران پوه ولس د امریکا جنایتکارانه لاسـوهنو خونړۍ پایلـو څخـه لږ تر لږ په افغانسـتان، عراق، سـوریه، لیبیـا او د نړۍ په ټولـو ځایونو کې بشـپړ درس اخیسـتی دی چې له ویجـاړۍ څخه پرته هغـوی ته بله کومه ډالۍ نه لری. دوهم دا چې د ایران خلکو په تجربې سـره موندلې ده چې د خمینی د منځنۍ پیړۍ رژیم د امریکا او لویدیځ پـه ملاتـړ واک تـه راغلی او د پردې تر شـا د همدغه ځواکونو سـره په جوړجاړۍ دوی وکولی شـو چې پوره څلور لسیزی د ایران ټپی ولس پر اوږو په خپل ځای پاتی شـی نو په دغه بنسـټ نور نه غواړی چې یوځل بیا د نیواک دوکه‌ورکونکی دام کې راګیر شي.




د ایـران میرمنـې چې د رژیـم د ناتاریو او دهغـوی د کوتکمارو تر ځناورتـوب لاندی ژوند کـوی، خپلـه مخکښـه ونـډه ولوبولـه. د ایران ښـځو له پخـوا څخه د یـو نوی نوښـت سـره، څـو تنـه آخوندانو ته یـې د واټونو پر مخ د مرګ تـر کچې پوری وهل او ټکول ورکړل، او په حقیقت کې د دغې ولسـیزی څپې پیلونکې وو او د لاریونونـو په لړ کې یې هم خپله اغیزمنه میړانه ننداری ته وړاندی کړه. رژیم هم د ښځو په مبارزی کې له پټ ځواک څخه ډیر په ویره کې دی. پـه واقعیت کې، ځوانان او زدکړیالان د هغی محرکه ځواک و چې په

خپل لوړ مرال او خپلې ټټر په سپر کولو سره یی، د زیارکښانو او خلکو غبږ اوچت کړ. هغوي د یو موټی افغان ځوانانو په څیر چې د عطا او محقق او صالح او نورو خاینانو تر شا منډې وهلو ننګ یې خپله دنده کرځولې ده، نه د قومی، ملیتی او سمتی مسایلو پر بنسټ، بلکه یو بل ته د لاسونو په ورکولو سره، د خپلواکۍ، ډموکراسۍ او عدالت لپاره د خپلو ګډو دښمنانو په وړاندې را پاځیدلی، مذهبی دیکتاتور او د هغه چوپړان یې ویرولی دی. د ایران ځوانانو په تجربې سره موندلی ده چې پر هیوادپلورنکو او فاسدو او جلادانو باندی له چلیپا رابنکلو پرته، نشو کولی یو ریښتنې مخکښ او ژرړویستونکې غورځنګ په لاره واچو. دوی دی پایلې ته رسیدلي دي چې د خاینانو د اصلاح فکر خپل ناسموالی د تاریخ په لړ کې څرګند کړی نو پر دغه بنسټ د دوی له شړلو پرته یو آزادیغوښتونکی او ملی حرکت په لاره اچول ناشونی ده.

کړیدلو خلکو، د مرتجع روڼاندو لکه صادق زیبا کلام، عباس میلانی، اکبر ګنجی او نورو تیوری جوړولو ته هیڅ ارزښت ورنکړ چې د افغان ځانپلورونکو په څیر یی د وژنکو او خاینانو سره جوړجاړي لپاره تبلیغ کاوه. دوی د خپلو افغان همتوکو په څیر لکه رنګین دادفر سپنتا، چې په ډیری بشرمۍ سره د جنایتکارانو غوړمالی کوی او د جنایتکارانو یوی اصلی ستنې ته په «درناوی» باورمند دی، او د هر ولسیز غورځنګ په وړاندی د ولس دښمنانو په لیکه کی ځاي لری چې دوی باید د ولس په انرژۍبخښونکو آوازونو سره د تاریخ ډیران کې واچول شی. د ایران پاخون کونکې باید په دی پوه وی هغه روڼاندی چې د ناتارګرو واکمنۍ سره د یوی ورځې د کار کول رټه په تندی باندی لری، د کرغیړنو او وجدانپلورونکو عناصرو په ډول باید څنډې ته وغورځول شي او د قهر لاندی راشی، ځکه چې دغه ډول ځانپلورنکې کولی شی د جوړجاړي او خیانت ویروس د مبارزانو لیکو ته ولیږدوی نو پر دغه بنسټ هیڅکله هم د باور وړ نه دي.

که څه هم د ایران د لاریونونو څپی آرامه دی، خو د خلکو کرکه د جنایتکاره او منځنې پیړۍ رژیم څخه، لکه د آیرو لاندی سکروټو په څیر چاودنې ته چمتو دی چې پر ایران باندی واکمن جلادان د تاریخ ډیران ته ګوزار کړی. ستار بهشتی چې د ایران دولت د ځناوریزو ربړونو لاندی شهید شو، یو وخت لیکلی وو، «زه خاموشه نه پاتی کیږم آن تر دی



چې مرګ ته د رسیدلو شیبه هم وی» او نن ورځ دغه حماسی جمله پرته له شک څخه د هر ایرانی مبارز په خوله ده چې له آخوندی ناتاریو څخه بېزار دی.

د ایران د خلکو بریا د مذهبی دیکتاتوری په وړاندی، په حقیقت کې د افغانستان د خلکو بریا ده چې د کلونو راهیسی د بشریت له دغه ننګ څخه د ناتاری په اور کې سوځي. د آخوندیانو د واکمنۍ په نسکورولو سره په ایران کې د بشریت دښمن، او د دوی افغانی جاسوسان لکه محقق، خلیلی، محسنی او ... او باړه اخیستونکې روڼاندی لکه کاظم کاظمی، سیدعیسی حسینی مزاری، ذکریا راحل، رضوان بامیانی، جواد محسنی، رهنورد زریاب، صادق عصیان، ابوطالب مظفری، رضا محمدی، لطیف پدرام او نور هم یتیمان کیږی او طاعون خپرولو لړی به یی هم زموږ په هیواد ختمه شي.

مونږ د خامنه ای - روحانی کرغیړن رژیم پر وړاندي پاڅون کونکو ته بې‌شمیره سلامونه لیږو او د دوی د هر یوتن لاسونه په ګرمۍ سره کیکاږو!




د داعش بنسټ ایښودونکی




لیکوڼکی: بهروز پویان

# شجاع‌الدوله، زموږ د تاریخ ملي او ویاړلی شخصیت




د افغانستان په مشروطیت غورځنګ کې بیشمیره ملي او هیوادپاله شخصیتونو شتون درلود چې د خپلواکۍ لاس ته راوړلو لپاره یې پرله پسې هڅې کړې دي او د خپلو وینو په قربانولو سره یې د خپلواکۍ، عدالت او دموکراسۍ بیرق اوچت او رپانده ساتلې دی. خو د څو لسیزو په لړ کې د لاسپوڅو او زلنده حکومتونو په واکمنۍ سره د دوې څخه ډیری هیر شوي دي او پر ځای یې د ولس د بدمرغۍ عاملان د «اتلانو» په څیر بنودل شوي دي.

پرمختللي او ولس‌واکه ملتونه او دولتونه په نړۍ کې د خپلواکۍ ساتونکو او خپلو ریښتینو اتلانو څخه په مسولانه ډول لمانځنه کوي، د هغوی له قرباني ورکونکو کړنو او هیوادپالنې او ژوند څخه د فلمونو او مجسمو په جوړول او یا په نورو لارو لمانځنه کوي تر څو نوی نسل دهغوی څخه په زده‌کړې سره د هیواد او ټولنې په وړاندې بااحساس او کټورو انسانانو باندې بدل شي. خو په خواشینۍ سره چې زموږ په هیواد کې د ارتجاع او بهرنې چوپړانو له خوا هغه کسانو ته اتلان ویل کیږي چې په عمل کې زموږ د تاریخ ننګ وي خو زموږ د تاریخ د ریښتینو زامنو په اړوند ناځیزه پلټنه هم نه ده ترسره شوی.


شجاع‌الدوله بابکرخیل غوربندی امان‌الله خان ته له نژدې مشروطه‌غوښتونکو څخه و چې ویل کیږي د امیرحبیب‌الله خان ننګین ژوند ته یې د پای ټکې کیښوده.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د هیواد ریښتینو او نوم ورکو اتلانو په پیژندنې سره، غواړي چې د بهرنیو چوپړانو هڅې چې غواړي زموږ د هیواد د نیواک‌ضد او خپلواکۍ‌غوښتونکو شخصیتونو نومونه خنثی کړي، هیوادپالو او عزتمندو ځوانانو ته وروپیژني.
شجاع‌الدوله خان زموږ د تاریخ له هغه اتلانو څخه دی چې د مشروطیت غورځنګ د نورو سترو شخصیتونو او د امان‌الله خان د یارانو په څیر یې د هیواد تاریخ په حساسو شیبو کې رغنده ونډه لوبولې ده. هغه چې د جبیب‌الله خان د دربار خادم و او تر امان‌الله او محمد ولی خان دروازې وروسته د «دربار پټه ټولنه» کې چې د مشروطه‌غوښتونکو یو ټولګه وه د مخورو کسانو څخه شمیرل کیده. نوموړی هوښیار، زیرک او علم‌پالونکی سړی و چې په فارسی، پښتو، انګلسی او روسی ژبو یې بشپړ لاسبری درلود.
شجاع الدواله د شاه دوله خان ځوی او د نایب‌سالار پروانه خان لمسې د امیر عبدالرحمن په وخت کې د غوربند له خانانو څخه و چې په ۱۸۹۶ میلادی کال کې په پروان کې زیږیدلی او وروسته د «غلام‌بچه‌ګانو» له ډلې، د حبیب‌الله خان دربار ته لارده وموندله. ویل کیږي چې هغه شجاع‌الدوله و چې د فاسد حبیب‌الله خان د وژلو ماموریت یې پلی کړ او د هیواد خپلواکۍ او د یو ملی او عدالت‌غوښتونکی دولت منځ ته راتګ لپاره یې لاره پرانیستله. میر غلام محمد غبار د «افغانستان د تاریخ په اوږدو کې» کتاب په لومړی ټوک کې لیکي:
«شجاع‌الدوله خان د جمعه ورځې د ګهیځ په ۱۰ بجو کابل ته

راورسیده او له عین‌الدوله سره یې لیدنه وکړه. دا هماغه کس دی چې ویل کیږي د دربار د پټې تولنې غړی او د عین‌الدوله همکار او امیرحبیب‌الله خان وژونکې دی.» (ص ۷۴۲)

«د پایتخت په ټولو څلورلارو کې په ډاګه ویل کیږي چې د امیر حبیب‌الله خان وژونکې خادم شجاع‌الدوله خان (د دربار د پټې ټولنې غړی) دی نه کوم بل څوک. همدا کس و چې په کابل کې د امیر امان‌اله خان په وخت کې، د عامه امنیت وزیر، د هرات تنظیمه پلاوي رئیس او په پای کې په لندن کې افغان لومړی وزیرمختار شو. انګریزانو هغه ته په بده سترګه کتل او امانیه دولت د نسکوریدلو په وخت کې یې هغه له لندن څخه وویستل شو.» (ص ۷۴۵)


شجاع‌الدوله، زموږ د تاریخ له ملي او ویاړلو شخصیتونو څخه و

امیر حبیب‌الله خان د ۱۹۱۹ کال په فبروري کې د غرڅو او ماهیانو ښکار په موخه له جلال‌آباد څخه د لغمان کله‌ګوش ته ولاړ او په نیمه شپه کې په ډزو ووژل شو. د خپل پلار زلنده حکومت ته یې د پای ټکې کیښودو او د مشروطه‌غوښتونکو واک ته رسیدلو او د هیواد خپلواکې لپاره دا د امان‌الله خان سیاسي حرکت و. شجاع الدوله په دې لامل چې د مشروطه‌غوښتونکو د باور وړ کس و او د دربار خادم په توګه یې د امیر د کیږدۍ جوړولو مسولیت درلود او هغه ته یې لاس رسی درلود، دغه دنده په غاړه واخیستله او ځنې نورو کسانو هم د دربار په شاوخوا کې شتون درلود چې د نوموړي لپاره یې لاره جوړه کړې وه.

په کابل کې د امان‌الله خان واک ته رسیدلو سره سم، شجاع الدوله د دولت په لوړو پوستونو کې وګومارل شو. سید مسعود پوهنیار «د مشروطیت څرګندیدل او د زورواکۍ قربانیانو» د کتاب په ۹۷ مخ کې په دغه اړوند لیکي:

«لکه څرنګه چې د ۱۹۱۹ کال په می میاشت کې د اماني دولت لومړی کابینه جوړه شو، شجاع الدوله د امنیت وزیر و او وروسته په

هـرات کې د تنظیمه پـلاوی رئیس په توګه وګومارل شـو (۱۳۰۰ ل د مرغومـی پـه ۲۰). له ۱۹۲۴ څخـه تر ۱۹۲۸ کال پوری پـه لندن کې د افغانسـتان سـفیر و او وروسـته د ۱۳۰۸ ل څخه (۱۹۲۹) له هغه ځای لری شـو او په برلین کې وګومارل شـو... او په م۱۹۲۹ کال کې د امانی دولـت نسـکوریدلو په وخـت کې بیائخلـې د هرات تنظیمه رئیس شـو خـو کله چې شـجاع‌الدوله د سـقاوی بلـوا په وخت کې هـرات ته راغی نایب‌سالار عبدالرحیم خان صافی وار له مخه د هرات خلک خپل کړی ول نو له همدې امله شجاع‌الدوله مهاجرت ته اړ شو او برلین ته ولاړ.» په خواشـینې سره چې په لندن او برلین کی د هغه د کړنو په اړه مو ډیر معلومات په لاس کې نه شـته. شجاع‌الدوله د امان الله خان له سرتیرو پلویانـو څخه و، په ۱۹۳۳ کال کـې د آل‌یحیی زلنده حکومت له خوا د افغانستان تابعیت څخه بې برخې شو چې په پایه کې د دوهمې نړیوالی جګړی په تودیدلو سـره په ۱۹۴۴ کال کې ومړ او د ترکانو سـیمې په یوه هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.



په آلمان کې د «همبستګې ګوند» له غړو څخه په مننې سره چې په ډیرو هڅو سره یې د شجاع الدوله قبر ومونده او د هغه انځورونه یې موږ ته راولیږل.



لیکوونکی: رحمت

# وحدت یوسفزی د امریکایی ځواکونو له لوری په شهادت ورسیده




وحدت یوسفزی د معراج الدین ځوی په ۱۳۶۷ کال کی د لغمان ولایت په قلعه دامان کلی کی وزیږیده. هغه چی یوې زیارکښې کورنۍ پورې اړه لرله د کار ترڅنګ یی خپلو زده کړو ته هم دوام ورکړ او په ۱۳۸۸ کال کی د اسحاق ننګیالي له عالي لیسې څخه په ښه درجه فارغ شو. له فراغت وروسته وحدت تل هڅه کول چی ځوانان لیک لوست ته وهڅوي. هغه ډیر ښه او پرمختللی فکر درلود او تل به یی د کلی ځوانانو ته د روانو ناخوالو او د هغوی د عاملانو په اړه معلومات ورکول له همدې کبله د ټولو په مشوره هغه د کلی ځوانان د رییس په توګه وټاکل شو. ددې ترڅنګ هغه د سرې میاشتی سره هم د رضاکار په توګه کار کاوه.

وحدت یوسفزی به تل ځوانان وحدت او یووالی ته هڅول. هغه افغانستان یو اشغال شوی هیواد باله او د امریکا کرغیړنو کړنو او پلانونو، وطنی جنایتکارانو، فاسدانو او هیوادپلورنوکو په اړه یی له خلکو سره خپل نظر شریکاوه. هغه به ویل: «امریکا ریښتینی آزادی غوښتونکی او بانفوذه خلک چی د هغوی د موخو خنډ وی له منځه وړی.»

نو پر همدی اساس د امریکا جنایتکاره ځواکونو وحدت یوسفزی د ۱۳۹۶ کال د دلوی په ۲۸مه نیټه په داسی حال په شهادت ورساوه چی هغه د یو بادی ټوپک سره د ښکار په لور روان وو او د امریکایی پوځیانو له مرکز څخه

یــې ۲۰۰ متره واټن درلوده. له وحدت یوســفزی څخه ۳ کم‌عمره لوښې پاتې چې مشره لور یې نجوا معلوله ده.

که یو موټې راولاړ نشــو او په آګاهانه ډول د امریکایي ځناورو پوځیانو او د هغــوی د چوپړانــو پر وړاندې کلکه او نه ســتړې کیدونکــې مبارزه ونکړو د وحــدت په څیر پــه هیواد او آزادۍ مینځ ځوانان به نــور هم تر خاورو لاندې شي.






**د نیواکګرو له لوري د تاریخ اړونه**

کارتونیست: کارلوس لاتوف Carlos Latuff



لیکونکی: پروین

# د تخار په چاه‌آب ولسوالۍ کې په ځناوریزه توګه د یوې ښځې وهل ټکول



د ۱۳۹۶ کال د سلواغې په ۱۲مه نیټه د چاه‌آب ولسوالۍ په عمدین کلي کې، یوه ښځه چې نوم یې لاتراوسه نده معلوم د خلکو په مخ کې ووهل شوه. دغه ښځه چې مې میړه یې په ایران کې مسافر وو له یوبل هلکه سره د مینې تار ځغلولی وه، د قومندان فیض چې د بشیر قانت له سرګروپانو څخه دی او د ګلبدین کرغیړن حزب اسلامی پورې تړاو لري په یوه صحرایی محکمه کې په ځناوریزه توګه ووهل شوه.

په هغه ویدیو کې چې په فیس‌بک کې خپره شوی، ګورو چې یوه برقع په سره ښځه چې ویره یې په ټول وجود کې خپره ده، په زوره اړباستل کیږي چې پر ځمکه کښیني او وروسته د قهرجنو خلکو له لوري چې تنکی لښتې په لاس کې لري په سر او شا او د بدن په نورو غړو وهل او ښکنځل کیږي. د یادونې وړ ده چې دغې ښځې یو ماشوم هم زیږولی وه چې هغه بیګناه انسان په هماغه لومړیو شیبو کې ددغو ځناورو له لوري وژل کیږي او وروسته دغې ښځې پسې راځي. ددغې مظلومې ښځې په اړه نور مالومات نشته خو ویل کیږي چې د خپل خسرکور کې اوسیږي.

د یادونې وړ ده چې دغه جنایات د طالبانو او داعشیانو تر واکمنۍ لاندې سیمه کې نده ترسره شوی بلکې د همدې ملي ځناورتوب دولت تر واک

لاندی سیمه کی او ددوی ځناورو ګلبدینی نوکرانو له لوری ترسره شوی چی نن ورځ هغه ته سولې سفیر وای. د چاه‌آب اوسیدونکی هره ورځ د سخت‌زړي بشیر قانت او سرګروپانو له لوری ربړول کیږي خو څوک یی غږ نه اوري.




**یوه پروژه په څو نومونو**

کارتونیست: کارلوس لاتوف Carlos Latuff




لیکونکی: کاوه عزم

# «ملي ډمکراسي بنسټ» د امریکا د توکمپالنې د مخ پټولو پرده ده




یرغلګرهیوادونه چې ژوند یې په جګړی او یرغل پورې تړلی دی ددې دپاره چې پرمختللی او ټولنیز حکومتونه له منځه یوسی بیلابیل وسلو نه ګټه پورته کوی.

دا هیوادونه کله د توکمپالنې سره مل کیږی او کله د ډموکراسۍ د نوم څخه ګټه پورته کوی. ددی نه وروسته چې د امریکا لغړه توکمپالنه د لاتینی امریکا په هیوادونوکی بدنامه شوه او د دیکتاتوری په زدکړی یی زرګونه تنه په هغه ځای کی ووژل، کوښښ کوی چی خپله خوړجنه خیره د ظاهری جامو په اغوستلو پټه کړی. همدا لامل وه چې لسګونه ټولنی یی د «ډیموکراسی»، «خپلواکۍ» او «بشر حقونو» په ورستاړی او مختاړی جوړی کړی چې ددی د ډلی یوه هم «د ملي ډیمکراسی بنسټ»(national endowment for democracy) وه چې بنسټیزه او اصلی دنده یی د امریکا ضد دولتونو راپرځول او د امریکا مریانو ملاتړ دی.

د ساړه جنګ په پړاوکی او ددی نه مخکی سی.آی.ای خپل ځینی ماموریـن د مالوماتو لاس ته راوړو او ویجاړۍ لپاره د نړی بیلابیلو هیوادونو ته واستول چې په ګڼو دغه ماموران وپیژندل شول او دی سی.آی.ای موخو پرمخ وړل ورته ګران شول. د کارونو اسنتیا او د څارګرو سازمانونو مامورینو

پوښښن پـه موخـه، امریـکا د «ملي ډیموکراسـۍ بنسټ» جوړ کـړ چې په مسـتقیم ډول د هغه هیـواد د بهرنیـو چـارو وزارت بودیجې څخـه د «یو.ایس.اید» پـوري تړلي بودیجـې یوې برخي پـه توګه ډیریدلـی. دا بویجه چي په پیل کـی ۵۰ میلیونه ډالره وه په ۲۰۱۰ کال کي د انسـاني ضد کړنو په ډیریـدو یو میلیارد ډالرو ته ورسیده. ددی ټولني جوړښت لـه مخکي نـه څرګنـد وه ولي په کال ۱۹۸۳ کـی په رسـمی بڼه د ریـګان د امریـکا دوخـت رییس جمهـور لـه خـوا اعلان شـو. د «ملـی ډموکراسـۍ بنسـټ» د پردی تر شـا د څلورو نورو ټولنو




«ملي ډموکراسـۍ بنسـټ» د څلورو نـورو ټولنو له خوا مشرتابه کیږي چې دهغې تر شا بډایان او یا د هغوی دلالان ځای لري

لـه خوا رهبری کیږي چی د هغې په سـر کـی بډایان او د هغوی دلالان ځای درلـود چې عبارت دی له ۱- «د امریکایي کارګرانو نړیواله ټولني مرکز» چې دغه ټولنه د جان جې سـویني (john j. Sweeney) له خوا اداره کیده چې همدغـه مهال کي د سـوداګری ټولني رییس هـم وه. ۲- «د نړیوال اقتصاد خپلـواک مرکز» چې د تومـاس جي دونهـو (Thomas J. Donohue) تر مشـرتابه لاندې دی او د امریکا د سـوداګرۍ خونو ریاست په غاړه درلود. ۳- «د جمهوري غوښتونکو نړیوال بنسټ» چې سناتور جان مک کین د هغې په مشرتابه کي ځای درلود. ۴- «په نړیوالو چارو کې د ملي ډیمکراسۍ بنسټ» مادلین آلبرایت د امریکا د بهرنیو چارو پخواني وزیر، د هغې ریاسـت په غاړه لري.

د «ملي ډموکراسـۍ بنسـټ» ددې په خوا کې چې لوړه بودیجه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت نه تر لاسـه کوي د دري نورو ټولنو څخه هم پیسـې تر لاسـه کوي تر څو وښـایي چې یو خصوصي او خپلواک بنسـټ دی. د این. ای.ډي دری ملاتړکونکي بنسـټونه: «اسـمیت ریچاردسون بنسټ»، «جان

پښتو ۱۲مه ګڼه، پسرلی ۱۳۹۷

ام ولین بنسټ» او «لیند او هري برادلي بنسټ» دی. تیر میسان، فرانسوی لیکونکی له سی.آی.ای سره ددی بنسټ مرستو په اړوند داسی لیکی:

«ډیری وخت پیژندل شوی کسانو چې د سی.آی.ای په پټو عملیاتو کی ګډون درلود، ددغه بنسټ د اجرای شورا غړی او یا مدیره استازی وو، ددی ډلی کسانو څخه کولی شو اوتو رایخ (Otto Reich)، جان نګروپونت (John Negroponte)، هنري سینسنروس (Henry Cinsneros) و الیوت آبرامز (Elliot Abrams) ته اشاره وکړو.... په دوامداره توګه، دملی ډموکراسۍ بنسټ د وین وبر (Vin Weber)، چې د مینسوتا ایالت پخوانی جمهوری غوښتونکی استازی و، د شدید محافظه کاری ټولنی "امریکا امپاور" بنسټ ایښودونکی او په ۲۰۰۰ کال کی د جورج بوش د مالی ملاتړکونکو تبلیغاتی ارګان مسئول له لوری رهبری کیده، په همدغه حال کی ددی سازمان اجرایی مدیر هم کارل ګشمن (Carl Geshman)، د امریکا د پخوانی سوسیال دموکراتانو مسئول او یو تروتسکیست او د نویو محافظه کارانو د نظام غړی دی ... په ساده وینا ، د ملی ډموکراسۍ بنسټ د پټو عملیاتو دوام دی.»

د «آر.تی» سایټ په ۲۰۱۰ کال د نوامبر په ۱۷مه نیټه د «د ډموکراسۍ تبلیغ: د رژیم بدلون لپاره د امریکا نوی فارمول » تر سرلیک لاندی مطلب کی لیکلی:

«آلن وین‌تین، د ملی ډموکراسۍ یو تن بنسټ ایښودونکي "واشنګتن پست" ورځپاڼی ته په ۱۹۹۱ کال کی څرګنده کړه، ډیر کارونه چې موږ یې اوس ترسره کو په پټه بڼه د سی.آی.ای سازمان له خوا ۲۵ کاله مخکی ترسره کیدل.» دغه ټولنه د خپلو تورو موخو پر مخ بویلو لپاره هغه کسان چې لږه پیژندګلی ولری په ډموکراسۍ سینګار وی ترڅو په آسانۍ سره څوک پری شکمن نشي. لارنس ویکرسون د کولن پاول ستاد رئیس «آر.تی » سره په مرکه کی د ۲۰۱۰ کال د نوامبر په۱۷ نیټه کی وایی: «موبږ دا کارونه د عملیاتی عناصرو له لاری او غیر دولتی سازمانونو او د هغه کسانو په مرسته چې د پردی تر شا مخکی خپلو کارونو له امله لږ بدګمانه دی تر سره کوو. ولی پوښتنه په دی کی ده چې ایا موږ

څه درس تری زده کړی؟ آیا خپلو کړنو ته مو ښـه‌والی وربخښلی؟ او آیا کولی شو د هغی کرغیړن اړخ ته زیرتره بڼه ورکړو؟»

دا یوازی « دملی ډموکراسـی بنسـټ» نه دی چی بدمرغه او توری موخې پلی کوی بلکی دغه ټولنه ډیری شمیر انجوګانی او سازمانونه د خپل سیوري لانـدی لـری. هر کله چی امریکا د خپلو سـترګو لاندی په کـوم هیواد باندی د تیري قصد ولری، این.ای.ډی د هر څه تر مخه ټول کسـان، موسیسـې، رسـنۍ او د دولـت د مخالفو ډلـو پیژندنه کوی او د هغـوی ملاتړ کوی. چی د خلکـو د ذهنونو د بی لاری کولو دپاره لسـګونه ډلـی د «مدنی ټولنی» او د « بشـری حقونو ساتونوکو سـازمانونه» په نامه په لاره اچوی تر څو د هغه هیواد موخو ته د رسیدلو سره مل وی. ډاکټر ویلیام رابینسون، د «څوګوني واکمنۍ رواجول» په کتاب کی لیکی:

«د امریکا د خلکو پیسـی یـوازی ددی پاره چی د امریکا دولت غواړی داسی کارونه تر سره کړی بربادیری. هغوی هغه هیوادنو ته چی د تیری قصد لری ځی او د دولت ضد ډلې د پیسو لاسته راوړو لپاره په نښـه کوی او د پیسـو ورکولو ترڅنګ خپـل تیری‌کونکی سیاسـتونه پری پلی کوی. کله چی امریکا غواړي خپله لاس‌وهنه پیل کړی مختلفې څانګی چی په هغو کی د بدلون غوښتونکی وی پیژندنه کوی. او په پایله کی معامله کونکی غورځنګونه او ګوندونو او د هغـوی منځ‌دریځه څانګی د سـخت دریځـه ګوندونوله منځه وړلـو او محافظه کاره ګوندونو ځواکمنولو په موخه د معامله کولو لپـاره ټاکی.هغوی د سـخت دریځه غورځنګونه ګوښـه کولو او د هغوی سخت‌دریځه عناصرو لمسولو په موخه د ښځو غورځنګونه منځ ته رواړي او د ښـځو محافظه کاره غورځنګونو پیژندنه کوی. هغوی دا کارونه د ځوانانو د څانګی سره او د مدنی ټولنو ټولو نورو څانګو سره کوی تر څو هغه کسان چی کولای شی چی د امریکا په تیری کونکی پلان جوړولو کی مرسته وکړی وپیژندل شی او ملاتړ یی وشی.»

ددی ټولنـی د اطلاعاتـو پر بنسـټ، پـه افغانسـتان کـی هم یو شـمیر سـازمانونه، موسیسې او رسنۍ د پوښـښ لاندی لری چی هغوی ته سلګونه زره ډالرو په ورکولو، د امریکا په ګټه تبلیغ کوی چی ددی ډلې څخه کولای شـو «فانوس مجله»، «هشـت صبح ورځپاڼه »، «چکاد ټلویزون» په هرات

، «د کابل نشرستان»، «د عروج ښوونیز مرکز»، «خلکو راډیو»، «شهر به شهر راډیو»، «د افغانانو لپاره د استراتیژکو مطالعاتو مرکز»، «د افغانستان بشر حقونو سازمان»، «د افغانستان لیدونکی» او نورو نوم واخلو. په ۲۰۰۵ کال کې «ملي ډموکراسی بنسټ» دری تنه په اصطلاح د افغانستان مدنی ټولنې فعالان هر یو تن محمد نصیب، سکینه یعقوبی او سرور حسینی د «د ډموکراسی خپرولو، د سولې ودانول، د بښځو حقونو څخه دفاع…» په مډالونو او ډالیو په بخښلو ونازول.

تیر میسان په کال ۲۰۰۴ د جنوری په ۲۲مه نیټه «ولترنت» په سایت کې لیکي:

«د ملي ډموکراسۍ بنسټ په شلمه کلیزه، د هغه سازمان ارزښت لاسته راوړو او کړنو په موخه ځیړنې تر سره کړې چې د هغې په پایلې کې ویل شوی دی چې دغه سازمان د نړۍ په گوټ گوټ کې ۶۰۰۰ نه ډیر ټولنی او سیاسی سازمانونه د خپل سیوری لاندی لرې او له هغوی څخه مالي ملاتړ کوی. په داسی ډول دغه سازمان ښکاره کوی: سوداگریز ټولنی "سولیدارنوسك" په لهستان "چارتر۷۷" په چک سلواکی او "اوتپور" په صبرستان کی یی په خپله په یوازی بڼه جوړې کړې دی، د "۲۹ راډیو" په جوړښت او "اسلوبدجنج" ورځپاڼه په پخوانی یوگوسلاوی کی هم ونډه درلوده. همدارنگه دغه سازمان په عراق کی، گڼه شمیر "خپلواکو" رسنیو کی هم ونډه درلوده. د گټې پورته کونی په لور د ملي ډموکراسی بنسټ د رسنیو، دهغه سازمان "ژورنال آف دموکراسي" خپرونه هم خپروی چی د نړۍ په گوټ گوټ کی ویشی، همدارنگه "انکوینترو" (ملاقات) مجله، هم د ټولیزو کتابونو په شان، په ځانگړی توگه د کیوبا لپاره خپریږی. په همدی موده کی، د ملي ډمکراسی بنسټ ځنی کنفرانسونه هم چی د روڼاندو پلاوو مالي ملاتړ کوی (د بیلگی لپاره "فرانسویس فورت"، فرانسوی پیبنلیک پوه او "جین دنیل" د فرانسوی رسانی ځانگو رییس) په لاره اچوی. د ملي ډمکراسی بنسټ همدارنگه د نړۍ په گوټ گوټ کی په ټولو چارو کی چی هلته د ډموکراسی تمرین‌ول غواړی، د سوداگری بنسټونو او د لوړپوړو سیاسی ځیرو د جوړښت تکل کوی.»

د «ملي ډموکراسي بنسټ» یو بلې دندې څخه په ټاکنو کې لاسوهنه او دامریکا د نظر وړ کس واکمنې ته رسول دي. نوموړی بنسټ ددې دپار چې خپلو موخوته ورسیږي میلونونه ډالره لګوي تر څو هغه کسان چې ددغه هیواد ګټو ته ژمن وي بریالي شي. این.ای.ډي «کار پوهانو» او رسنیو ته روپۍ ورکوي تر څو د خلکو فکرونه اندیښمن وساتي او په یو ډول دخپل نظروړ نوماند ته کمپاین وکړي. دغه کمپاین په ځینو برخو پټه ولي په اکثر ځایونو کې په ښکار وي. د بیلګې په ډول د افغانستان ورستنې ټاکنې لویدیځو رسنیو اشرف غني «دویم فکرکونکي دماغ» په نړۍ کې اعلان ګړ او ددې نوم څخه یې دخپل نظروړ نوماند په ګټې پریمانه سود یووړ.

ران پال د امریکا د کنګرې غړي د یوې مناظرې په لړ کې د «ملي ډمکراسي بنسټ» د کارکړنو په ګوته نیولو سره د ۲۰۰۳ کال د اکتوبر په ۲۷ نیټه وویل:

> «دغه لاسوهنې د نورو هیوادونو په ټاکنو کې د ډموکراسي د خپراوې په بهانه یوازې د توکمپالنې د ډول بدلون دي. مونږ امریکایان به څرنګه احساس ولرو که د بیلګې په توګه چینایان زمونږ په هیواد کې میلیونونه ډالره د یو ځانګړي نوماند په ملاتړ چې د چین پلوی وي په لګښت ورسوي؟... زه ګمان کوم چې دا ډارونکې ده، مونږ د باړورکونکو پیسي د فوځي ځواکونو استولو او د سي.آی.ای کړنلارې ته په لګښت رسو ترڅو د نورو هیوادونو په چارو کې لاسوهنه وکړو او هغوی ته ووایي چې دا هغه کار وه چې تاسو پخپله باید ترسره کړی وای. مونږ حق نلرو چې دارنګه کارونه وکړو، دهغه کار له مونږ نه د ډیرو خلکو د کرکې لامل کیږي.»

یوازې په ونزویلا کې د امریکا دولت د هوګوچاویز راپرځولو لپاره ۶۲۰ کړنلارې په لاره اچولې چې زیات شمیر ددغه بنسټ له خوا تر سره کیدلې. این.ای.ډي لسګونه انجوګانې جوړې کړې چې د دولت په خلاف دندې تر سره کړي عاطلې او باطلې نظرپوښتنې خپرولې تر څو ولس د حکومت څخه کرکجن شي. ماریا کورینا ماچادو، د مشرانو جرګې غړې او د چاویز مخالفه ده، دهغه د «سوماته» په نامه انجیو رییسه ده چې د «ملي ډموکراسي بنسټ» له خوا مالي ملاتړ کیږي. ماچادو په ۲۰۰۴ کال کې یوه پروژه واخیسته چې غوښتل یې د ټولپوښتنې په مرسته د بولیوي ټاکل شوي رئیس جمهور لرې ګړي خو بریالۍ نشوه. ماچادو پخپله اقرار کوي: «زمونږ

په اړه، مونږ هم د لسګونو نورو فعاله سازمانونو په توګه په ونزویلا کې دملي بنسټ څخه بودجه تر لاسه کوو.»

دملي ډموکراسی بنسټ د لاسوهنو او شرجوړونې نوملړ ډیر اوږد دی چې د هندوراس نه نیولي تر هائیتي او اوکراین، ونزویلا، افغانستان او عراق او... ته رسیږي چې هغوی ټولو په اړه لیکل خورا سخت کار دی. ولی هغه څه چې روښانه او ښکاره دی د امریکا یرغلګره او ښکیلاکګره څیره ده چې په یو هیواد کې وکمپالنې په جامه کې ولی په بل هیواد کې د «ډموکراسی» په څیر راښکاره کیږي. زموږ اولس باید په دی پوه شی چې د نومونو په ظاهري ښکلا تیر نه وځی تر څو د امریکا او بی شمیره تالي‌څټو په لومو کې راښکیل نشي.




د امنیت لپاره د آزادۍ قرباني کول



لیکوونکی: نوید نابدل

# اته ستر پانګوال د نړۍ د نیمو خلکو په برابر شتمنې لري



د انګلستان غیردولتی موسسې «آکسفام»، د ۲۰۱۷ کال د جنوری په ۱۶ نیټه، په نړۍ کې د د بیوزلۍ او پانګې ترمنځ له ژور درز څخه یې اندیښنه ښودلې ده او په راپور کې یې بربنډه کړې ده چې یوازې د نړۍ اتو سترو پانګولو شتمنې برابره ده د نړۍ د نیمو خلکو له شتمنې سره (دري میلیارده او شپږ سوه میلیون کسان). د دغه بنسټ تیر کال په راپور کې لیکل شوي وو چې د نړۍ ۶۲ سترو شتمنانو شتمنې د نړۍ د نیم نفوس له شتمنې سره برابره ده. د ټولنې د مادی او معنوی نعماتو دغه بې‌ساری تراکم د یو موټې مفتخوړونکو په لاس کې، پر نړۍ باندی د بې‌عدالتی بې‌ساری ویش واک ښایي.

بیل ګیټس، د مایکروسافټ شرکت بنسټ ایښودونکې، د ۷۵ میلیارده ډالرو پانګې په درلودلو سره د دغه پانګوالو په لومړی پوړ کې ځای نیولې د هغه تر شا آمانیسو اورتیګا، د مکسیکویی ستر پانګوال (د زارا د پلورنځای خاوند) د ۶۷ میلیارده ډالرو پانګې سره په دویم پوړ کې ځای نیولې دی. امریکایی وارن بفت (د برکشایر هاتاوی بیمې خدمتونو څو ملیتي شرکت خاوند) ۶۰.۸ میلیارده ډالر، لبنانی‌اصله مکسکویی سوداګر کارلوس اسلیم ۵۰ میلیارده ډالر، امریکایی جیف

بوزیس (د آمازون شـرکت خاوند) ۴۵.۲ میلیارده ډالر، مارک زاکربرګ (د فیسبوک خاونـد) ۴۴.۶ میلیـارده ډالر، امریکایی لاری ایلیسـون (د اوراکل شـرکت خاوند) ۴۳/۶ میلیارده ډالر او امریکایی مایکل بلومبرګ (د بلومبرګ سترو رسنیو خاوند) ۴۰ میلیارده ډالره شتمنیو په درلودلو سره په وروستیو پوړونو کې ځای لری.

آکسـفام د توما پیکتی، فرانسـوی اقتصادپوه د نویو څیړنو پایلې ته اشـاره کوی چې د امریکا په متحده ایالاتو کې د تیرو دیرشـو کلونـو په لړ کې، د غریبو کورنیو د عایداتو پرمختګ ویش صفر سـلنه وو، په داسـی حال کې چې د هغوی د یو سـلنه پانګولانو په همدغه وخت کې ۳۰۰ سلنو څخه ډیر عایداتی پرمختګ درلوده.

سـتر پانګوالان چـې د پانګوالې په لویو هیوادونو کـې واک په لاس کې لری، په کارګرانو د زبیښـاک په ډیرولو سـره، د نړۍ په ګوټ ـ ګوټ کې د ویجاړونکو جګړو په لاره اچولو او د غریبو خلکو د شتمنۍ لوټولو په نه مړیدونکې حرص سره د خپلې شـتمنې په ډیریدلو پسـې دي او نړۍ یی د ځناورتـوب او بیوزلۍ او بدمرغې په لور رابنکلې ده. تر هغه وخته چې زیارکښان د خپلو حقونو لاس ته راوړلو لپاره سره یو ځـای نه شـې او د بدلون لپاره لاس په مبارزه نه شـی، دغـه د بی‌عدالتی او ناتارۍ څپې به ادامه ولری.





لیکونکی: نوید نابدل

# د عربستان ملي ټلویزیون، د ښځو وهلو او ټکولو طریقی زده کړه ورکوي




«څه ډول خپله میرمنه وټکوي؟» د هغې ویډیو سرلیک دي چې ۲۰۱۶ کال په فبروری میاشت کی د عربستان ملی ټلویزیون له لاري څخه خپره شوه. په دی ویډیو کی کورني ډاکټر خالد ال- صقابی په نوم، هغه ښځو ته چی د خپل خاوندانو له امرونو څخه سرغړونه کوی د سزا ورکولو لارو زده کړه ورکوی او وایي:

«په لومړی ګام کی د قران له لیده څخه خپل حقوق او د هغوی دندی ورپه یادکړي. وروسته دوهم پړاو ته ولاړ شي- خپل د ویده کیدو تخت له هغوی څخه جلا کړي. دریم ګام کې، وهل دي چي باید د اسلامي احکامو سره سم ترسره شي. وهل او ټکول نباید د اوسپنیزې میلی، چلتاربند، تیره څوکې څیز په واسطه ترسره شي. ددغو څیزونو پرځای د مسواک او یا د غاړی دستمال څخه د ښځو وهلو لپاره ګټه واخلي.»

هغه ادامه ورکوي د ښځو وهلو یواځیني لار دا نه ده. سړي کولې شي هغه لارو چارو چې دوی ته زده دي خپلو میرمنو ته سزا ورکړي.

خالد الـ صقابی څرګندونه کوی چې دښـځو د تاوتریخوالې لامل پخپله ښـځې دي چې په دعوا کولو او بد چلند سـر د خپلو خاوندانو غوسـه کیدو لامل کیږي او هغوي وهی او ټکوي «...په ځینې حالاتو ښځه تیروتنه کوی او د دي لامل کیږي چې خاوند هغه ووهي.»

د ښـځو او انسـانیت ضـد د دغـه ډاکټر له لید څخه ښـځو پـر وړاندي د تاوتریخوالې بل لامل د برابرو حقونو غوښتل دي. هغه وایي په واده کی هیڅ برابر حق شتون نه لري. او یواځې هغه شې چې ارزښت لري د خاوند څخه د ښځې پیروي کول دي: «په خواشیني سره یو شمیر ښځې غواړی چې د خپلو خاوندانو په شان مساوی ژوند ولری چې د ښځو د وهلو اصلی لامل دغه دي او دغه ستونزه ډیر جدی ده.»



# د آخوند معجزه

کارتونیست: مانا نیستانی



لیکونکی: هیله نوري

# د حزب اسلامي خوروړی قومندان په نامه د تلاشي چوک او یو ښوونځي ککړېدل



د ګلبدین حزب اسلامي د وینې څښونکو او زلنده قومندانانو څخه یو تن، عطا ګل چې په آدم خان مشهور دی، له هغه لومړنیو کسانو څخه و چې د داوود خان حکومت راپرځولو لپاره یي د مسعود او نورو سره یوځاي له پاکستان څخه وسله راوړه، خو د هغې کرغېړنه کړنلاره د سیمې د خلکو له خوا بربنډه شو او د محاکمې له ویرې پاکستان ته وتښتېدل.

د پېښور اووګونو ګوندونو له یرغل څخه وروسته، آدم خان د هیواد ویجاړولو لپاره افغانستان ته راستون شو او خپله جبهه یې د ننګرهار په تورغر کې جوړه کړه. په لومړیو کې، آدم خان یو نوم ورکی کس وه. د بنسټپالو ګوند ماهیت پر بنسټ، دغه ناتارکونکی قومندان د یو لیک په لړ کې خلکو ته امر وکړ تر څو د تورغر جبهې ته پسونه او غواګانې او غنم واستوي، خو د سرخرود خلکو په سپورو ستغو سره د هغه لیک ته ځواب ورکړ. کله چې آدم خان د خلکو له ځواب څخه خبر شو، د خپلو څو تنو قومندانانو سره یې د سرخرودو په ولسوالۍ یرغل وکړ او د دې ولسوالۍ ګڼ شمېره اوسیدونکې یې په ډله‌یزه توګه ووژل چې له هغې ورځې وروسته د هغه ناتاري او بیرحمي

مشهوره شوه.

یو بل مسولیت چې آی‌اس‌آی هغه ته سپارلې وه، له درونټې څخه تر جلال‌آباد پورې د برښنا ستنو ویجاړول وه. هغه څو ځله د دې لارې ستنو ته چاودنه ورکړه او د برق کیبلونه یې غوڅ کړل. د هغه ټولو چاودنو نښې تر نن ورځې پورې د بریښنا پر ستنو پاتې دي.

د آدم خان او د هغه د ډلې د دغه ټولو ځناورتوبونو او ناتارۍ ترځنګ، د هغه یو بل نه بخښونکې جنایت، د ننګرهار د لیلې د انجونو تښتول دی. په ۱۳۵۸ کال کې، آدم خان د خپلې جبهې د لنډغرانو یوې ټولګې سره د ننګرها لیلې پر انجونو یرغل وکړ او شپږ انجونې یې برمته کړې. بیا یې، یوه ورځ انجونې په خپله پوسته کې وساتلې او په بله ورځ یې پریښودلې. د محصلانو او عینی شاهدانو په وینا، دغه شپږ انجونې تر هغې ورځې وروسته پوهنتون ته رانه غللې.

خو له هغه ځایه چې د افغانستان کرغیړن دولت د آدم خان همفکرانو او همانډو څخه ډک دی، د دغه ټولو جنایتو او ځناورتوبونو په بدل کې، د جلال‌آباد ښار تلاشی څلورلارې او یو ښوونځې یې د دغه ځناور په نوم ولېږل. د ښار اوسیدونکې پر دغه څلورلارې او ښوونځې باندی د هغه نوم په لیدلو سره خپل زړه خورئ خو په ټولو دولتی پوستونو کې د ستروجنایتکارانو واکمنې پر بنسټ نه شي کولې خپل غږ پورته کړي.



**ټولنیزو رسنیو څخه وسله جوړه کړو!**

کارتونیست: Bruce MacKinnon

# «د افغانستان د همبستګی ګوند» خپروني تاسو کولي شی په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:

## کابل

**نمایندگی انجمن نویسندگان افغانستان**
جوار پارک تیمور شاهی

**شرکت کتاب شاه محمد**
چهارراهی صدارت

**کتاب فروشی مقدم**
مارکیت جوی شیر کابل

**کتابخانه وحدت**
نیاز بیک، دکان حاجی

**کتاب فروشی معلم محمد وحید**
د افغانستان آریانا مارکیت، دکان اول

**کتاب فروشی رفیع الله**
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

## هرات

**کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"**
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

## بلخ

**کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی**
**کتاب فروشی عبدالرازق انصاری**
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

**کتاب فروشی فیروز**
مقابل نشنل بانک پاکستان

## تخار

**فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی**
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

## کندز

**قرطاسیه فروشی محمد هارون**
جاده ولایت

## بامیان

**کتاب‌فروشی محمد ظاهر حیدری،**
جوار سبزی فروشی، شهر بامیان

## غزنی

**کتاب و قرطاسیه فروشی توحید**
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

**کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی**
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

**کتاب فروشی فرهنگ ۱**
جوار کتابخانه عامه

**کتاب فروشی فرهنگ ۲**
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

## ننگرهار

**کتابفروشی سیار**
ولسوالی خیوه

**مازیګر کتابپلورځی**
اسحاقزی مارکېټ، جلال‌آباد

## کنر

**کتابفروشی احمد ظاهر**
چغانسرای، سرک قومندانی

## فراه

**کتابفروشی عزیزی**
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

## بغلان

**کتاب و قرطاسیه فروشی فردوسی**
شهر پلخمری، مقابل غضنفر بانک

## بدخشان

**کتاب و قرطاسیه فروشی ضیایی**
فیض آباد، دشت شهدا، مقابل تربیه معلم

## نورستان

**عکاسخانه، فوتوکاپی و قرطاسیه فروشی میا**
روبروی مسجد انصاف مارکیت، پارون - نورستان

# دردیدلو هیوادوالو،

که د خپلواک، آزاد او دموکرات افغانستان غوښتونکی یاست؛ که د افغانستان د سرلوړۍ او بې‌وزلو خلکو د هوساینې هیله په زړه کې لرئ؛ که غواړئ د نیواکګرو او د هغوی چوپړانو د جنایتونو او خیانتونو پر وړاندې خپله دنده ترسره کړئ، نو د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» سره یوځای شئ او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کې خپرې کړئ.

پته: پست بکس شمیره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بریښنالیک: info@hambastagi.org
ویب‌پاڼه: www.hambastagi.org
فیسبوک: facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party
facebook.com/hambastagi
تویټر: twitter.com/solidarity22
یوټیوب: youtube.com/AfghanSolidarity

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د خپلو کړنو مخکې وړلو لپاره د غړو حق‌العضویت او د پلویانو مرستو ته اړتیا لري. په خپلو نقدي مرستو له موږ سره همغږي شئ:

Azizi Bank
Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan
Name: Sayed Mahmood
Account No: 001903204644917

# Hambastagi (Solidarity)

A Publication of the Solidarity Party of Afghanistan

**12**

**PASHTO**




عبدالرحمن لودین، د افغانستان په روڼآندی خوځښت کی بلیدونکی «اورلګیت».... ۱۴ مخ

قیمت: ۲۵ افغانی